د افغانستان بانک

# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

یوولسم کال، یوسلو دوه دېرشمه ګڼه د ۱۳۹۷ د غبرګولی میاشت




## د افغانستان او ترکیې

**تر منځ د هوايي دهلیز پرانیستل د سوداګرۍ په برخه کې اړین ګام**



# افغانۍ، زمونږ د وياړ،
# اقتدار او ملي هويت نښه ده!

# بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: آمریت اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸


www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب


ایجاد دهلیز های هوایی افغانستان، صادرات کشور را افزایش ...

به روزنامه محترم ماندگار!

د د افغانستان بانک او سوداګرۍ او صنعت وزارت ترمنځ د...

د مالی سکتور بدلونونه

د افغانستان او ترکیې تر منځ د هوایي دهلېز پرانیستل د سوداګرۍ...

ابعاد مختلف فرار سرمایه

نقش و مشارکت زنان در نیروی کار

مختصری به اقتصاد جهان و افغانستان

د افغانستان بانک پولي سیاست ته ځغلنده کتنه

نقش دولت در چگونگی بازار

د اقتصادي پرمختګ لپاره ډیرو هلو ځلو ته اړتیا ده

بحثی در زمینه بازار سرمایه و بازار پول

په اقتصادي پرمختیا کې د امنیت رول

څه ډول کولای شو په سوداګریزو ونډو پانګه اچونه وکړو؟

فروش مواد خام معدنی و پی آمد آن


**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.


استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



# ایجاد دهلیز های هوایی افغانستان، صادرات کشور را افزایش میدهد.

دولت افغانستان از چندی بدینسو در زمینه رشد تولیدات داخلی، افزایش صادرات و ایجاد شغل به مردم تلاش های پیگیر انجام داده است. یکی از این تلاش ها گشایش دهلیز های هوایی بمنظور انتقال و دریافت کالاها میان افغانستان، هند، قزاقستان و ترکیه است. این دهلیز ها در حالی ایجاد می شوند که افغانستان تا هنوز هم دارای کسر بیلانس تادیات است.

هدف عمده گشایش این دهلیز ها بلند بردن سطح تجارت میان افغانستان و کشورهای منطقه به منظور رشد تولیدات داخلی و افزایش صادرات است که به تبع آن تغییر مثبت در بیلانس تادیات رونما گردیده و کشور در دراز مدت از اقتصاد مصرفی رهایی می یابد.

باید یاد آور شد که تاکنون از طریق دهلیزهای هوایی موجود در یک سال گذشته در بیش از ۹۰ پرواز، به ارزش بیش از پنجاه میلیون دالر کالاهای تجاری افغانستان به کشورهای دیگر صادر شده است.

با فراهم شدن امکان صادرات میوه، تولیدات زراعتی و گیاهان طبی از طریق هوا به هند، ترکیه، قزاقستان و دوبی به نظر می رسد که افغانستان دیگر از وابستگی به یک یا دو کشور همسایه نجات یافته و مبدل شدن آن به یک کشور صادراتی در حال رشد است.

# به روزنامه محترم ماندگار!

## در پاسخ به نبشتهٔ منتشره در شمارهٔ (۲۲۸۲) مورخ ۲۲ جوزای ۱۳۹۷

به تاریخ ۱۹ جوزای سالروان محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک برای توضیحات پیرامون وضعیت نرخ مبادله پول افغانی و نظام بانکی کشور به جلسه عمومی ولسی جرگه فراخوانده شده بود. رئیس کُل د افغانستان بانک در این جلسه به پرسش های وکلای محترم ولسی جرگه در باره وضعیت نرخ مبادله پول افغانی و سکتور مالی کشور معلومات همه جانبه ارائه نمود که مورد قناعت وکلای محترم قرار گرفت.

اما، روزنامه ماندگار به تاریخ ۲۲ جوزای ۱۳۹۷ مطلبی را تحت عنوان «رئیس بانک مرکزی هم به میخ می زند و هم به نعل!» در باره حضور رئیس د افغانستان بانک در ولسی جرگه به نشر رسانده که محتوای آن غیر حقیقی، غیر مسلکی و غرض آلود است. د افغانستان بانک امیدوار است که رسانه های کشور، اصل صداقت و اعتبار را در نشر گزارش ها در نظرگرفته، به حیث ابزار مؤثر در شفافیت و حسابدهی کمک نمایند.

د افغانستان بانک نقش رسانه ها را در رساندن اطلاعات به مردم با اهمیت تلقی کرده و این مجرا را به حیث اخذ نظریات مردم به دیده قدر می نگرد و متقابلاً از همکاری در زمینه اطلاع رسانی دریغ نمی کند.

از آنجائیکه موضوعات اقتصادی و به ویژه سیاست های پولی و سکتور مالی کشور، از لحاظ تخنیکی موضوعاتی حساس و اثرگذار بر وضعیت اقتصادی عامه می باشد، نقد، گزارشدهی و قضاوت بی اساس و غرض آلود در این عرصه، سبب نگرانی مردم می شود، از اینرو د افغانستان بانک برای اطمینان عامه، موارد آتی را قابل پاسخ می داند:

**ادعای اول: تغییر در وسایل سیاست پولی خلاف قانون بانکداری و تئوری اصل سیاست پولی در افغانستان و دنیا.**

توضیح: اولاً روشن نیست منظور نویسنده از تغییر در وسایل سیاست پولی کدام وسایل، کدام تغییر و این تغییرات مخالف کدام مادهٔ قانون بانکداری و مغایر با کدام تئوری اصل سیاست پولی است؟

با استناد از قراین، احتمال می رود منظور نویسنده از تغییر در ژریم ذخایر اجباری باشد که در ادعای دوم نویسنده نیز مطرح شده، در این جا نوع تغییر و دلایل تغییر این رژیم ذیلاً تشریح میگردد:

رژیم ذخایر اجباری که قبلاً مرعی الاجراء بود، بانکهای کشور را ملزم ساخته بود تا هشت فیصد از سپرده های سپرده گذاران را به پول افغانی نزد د افغانستان بانک نگهداری نماید.

نگهداری بخشی از سپرده های سپرده گذاران نزد بانک مرکزی تحت عنوان ذخایر اجباری صورت می گیرد؛ هرچند به صورت متداول ذخایر اجباری به منظور تأمین اهداف سیاست پولی (کنترول حجم نقدینگی)صورت می گرفت، اما قابل ذکر است که تحت این رژیم استفاده فعال و مؤثر از این وسیله به هدف تطبیق سیاست پولی صورت نگرفته بود؛ یعنی فیصدی نسبت اجباری از چندین سال بدینسو در نسبت ۸ فیصد باقیمانده و تغییر قابل ملاحظهٔ در آن صورت نگرفته است.

بعد از بحران مالی اخیر (۲۰۰۸ میلادی) در جهان، اهمیت جنبه ذخایر احتیاطی برجسته تر گردید. منظور از نگرش احتیاطی آن است که در صورت بروز مشکلات در بانک (مثلاً هجوم همزمان

»

تعداد زیادی از سپرده گذاران برای برداشت سپرده های شان) ذخایر اجباری سپرده گذاران محفوظ است. در افغانستان نیز بُعد احتیاطی ذخایر الزامی مخصوصاً بعد از بحران کابلبانک برجسته تر گردید.

سهم سپردهٔ اسعاری (مخصوصاً دالر امریکایی) سپرده گذاران در نظام مالی کشور تقریباً هفتاد درصد می باشد. همچنان سپرده های اجباری به پول ملی نزدیک به یک بر سوم حصهٔ سپرده های افغانی بانکها را در نزد بانک مرکزی تشکیل میداد.

این موضوع بانکها را با چالش شدید مدیریت نقدینگی به پول افغانی مواجه ساخته و بانکها در برخی موارد مجبور می شدند از سهولت قرضه شبانهٔ د افغانستان بانک که نرخ تنبیهی را بر بانکها تحمیل می کند، استفاده کنند.

ثانیاً در شرایط بروز بحران احتمالی در یک بانک و یا احتمال بروز بحران سیستماتیک و فراگیر در کُل سکتور، سپرده گذاران سپرده های خود را به هر پولی که سپرده گذاشته اند، مطالبه خواهند کرد. در آن شرایط تبدیل حجم زیادی از پول افغانی به دالر در مارکیت فشار و شوک شدیدی را بر بازار اسعار تحمیل خواهد کرد. قابل یاد آوری است که در هیچ جای قانون بانکداری ذکر نشده است که ذخایر اجباری به پول ملی وضع شود. آنچه در قانون صراحت دارد، این است که در هنگام وضع ذخایر اجباری نمی توان میان بانکها تبعیض قایل شد.

قابل یادهانی است که موضوع تغییر رژیم ذخایر اجباری از سوی متخصصان و کارشناسان صندوق وجهی نیز مورد تایید قرار گرفته و آنها این اقدام را خصوصاً از بُعد احتیاطی یک گام مهم، مؤثر و ضروری ارزیابی کرده اند.

تغییر دیگر در رژیم ذخایر اسعاری افغانستان افزایش نسبت ذخایر سپرده های اسعاری بانکها از هشت فیصد به ده فیصد بود که این افزایش هم از بُعد احتیاطی توجیه پذیر است و حفاظت بخشی زیادی از سپرده ها را به نسبت قبل تضمین می کند. این اقدام علاوتاً در راستای ترویج پول افغانی و تشویق بانکها به جذب بیشتر سپرده های افغانی صورت گرفته است.

**ادعای دوم : اتخاذ پالیسی های متضاد:**

توضیح: تغییر رژیم ذخایر اجباری هر چند می تواند در حالاتی که بانکها با مشکل سیالیت مواجه باشند، بر توازن عرضه و تقاضا تأثیر بگذارد، اما در شرایط فعلی بانکهای افغانستان از سیالیت اسعاری بسیار بالاً برخوردار اند و مشکلی از نظر توازن بین عرضه و تقاضای سیستم بانکی به اسعار خارجی و مشتریان بانکها وجود ندارد.

با توجه به این توضیحات تضادی میان پالیسی د افغانستان بانک از نظر استفاده از عملیات بازار باز اسعار خارجی (فروش هفته وار دالر در بازار) و تغییر رژیم ذخایر اجباری وجود ندارد.

چنانکه گفته شد تغییر رژیم ذخایر اسعاری معطوف به کمک به حفظ ثبات و محافظت از امانت سپرده گذاران بوده است. هرچند در نتیجه این تغییر به میزان ۱۲ تا ۱۳ میلیارد افغانی از ذخایر اجباری آزاد شده است، اما به دلیل اینکه این مقدار پول کماکان در حسابهای بانک مرکزی باقیمانده در سهولت سپرده شبانه یا در اوراق بهادار د افغانستان بانک سرمایه گذاری شده اند، تأثیری بر حجم نقدینگی در اقتصاد نداشته است.

علاوه بر جنبه احتیاطی این پالیسی افزایش نسبت سپرده های اسعاری یک اقدام متعارف در راستای حمایت و ترویج پول ملی به حساب می آید. این اقدام بخشی از سلسله اقدامات و بسته پالیسی د افغانستان بانک در جهت تشویق مردم، بانکها و فعالین عرصه »

اقتصاد به استفاده بیشتر از پول ملی می باشد.

**ادعای سوم: تعلیق حسابهای اسعاری بانکها در ولایات:**

توضیح: تعلیق حسابهای اسعاری بانکها در ولایات از ابتداء به گونه موقتی صورت گرفته بود. این تعلیق هر چند می توانست بخشی از بسته پالیسی بانک در جهت ترویج پول ملی نیز تلقی گردد، اما عمدتاً یک اقدام موقتی بود تا در این فرصت بانکها بتوانند امکانات و پالیسی های خود را مطابق با قوانین، مقررات و مقتضیات عمومی مبارزه با پولشویی و تمویل تروریزم عیار سازند و پس از آنکه میکانیزم کنترول و تطبیق قوانین و مقررات مبارزه با تطهیر پول و تمویل تروریزم در بانکها تقویت گردید، خدمات حسابهای اسعاری برای بانکهای تجارتی مجدداً اعاده گردید.

**ادعای چهارم: کاهش نرخ بهره اوراق بهادار:**

توضیح: طبق صراحت مادهٔ دوم قانون د افغانستان بانک این نهاد مکلفیت دارد با در نظر داشت هدف اولیه اش سیاست های کُلی اقتصادی دولت را حمایه و رشد اقتصادی دوامدار را تقویه نماید. در پرتو این مکلفیت قانونی، د افغانستان بانک همواره کوشیده است در شکل دهی ثبات اقتصادی به عنوان بستر لازم برای رشد اقتصادی و افزایش استخدام و کاهش بیکاری سهم مؤثر را ایفاء نماید. بدون تردید رشد اقتصادی بدون افزایش سرمایه گذاری و گسترش فعالیت های تولیدی و اقتصادی امکان پذیر نیست.

سهمی که د افغانستان بانک می تواند در گسترش فعالیت های اقتصادی و افزایش سرمایه گذاری در اقتصاد ایفاء کند، همانا کمک به ایجاد زمینه دسترسی واحد های اقتصادی به قروض آسان و ارزان می باشد. بدون شک وجود سرمایه ارزان و آسان یکی از عوامل در کنار وجود امنیت جان و سرمایهٔ سرمایه گذار و وجود یک چشم انداز روشن و باثبات در نزد فعالین عرصه اقتصادی است.

با توجه به اینکه پرداخت نرخ های بالا اوراق بهادار توسط بانک مرکزی به بانکها می توانست انگیزهٔ بانکها را در زمینهٔ اعطای قروض و اعتبارات بانکی تحت تأثیر قرار دهد و مانع دسترسی مشتریان و سرمایه گذاران عادی به قرضه آسان و سهل گردد.

البته د افغانستان بانک برای مدتی نرخ بالاتری در برابر اوراق سرمایه گذاری پرداخت کرد. هدف اینکه قبلاً د افغانستان بانک نرخ تکتانه بالاتر پرداخت می کرد آن بود تا بانکها بتوانند با پرداخت نرخ بالاتر به سپرده گذاران سپرده های افغانی بیشتری جذب کنند و از این طریق جذابیت برای نگهداری پول افغانی ایجاد کرده به پروسه دالر زدایی از اقتصاد و خصوصاً دالر زدایی از سکتور مالی سهم بگیرند.

مطالعات و تحلیل های د افغانستان بانک نشان داد که این پالیسی به دلیل حساسیت به تکتانه و دلایل دیگر منجر به افزایش سپرده های افغانی نگردید.

در نتیجه، د افغانستان بانک رویکردی دیگر در پیش گرفته و پالیسی ترویج قرضه آسان و ارزان و ترویج پول افغانی در قروض را اتخاذ کرد و در چارچوب این پالیسی نرخ بهره اوراق بهادار را کاهش داد.

تحلیل های د افغانستان بانک نشان می دهد که این پالیسی، به دلایل زیر یک اقدام مفید و مناسب بوده است:

اولاً: بانکها پس از آنکه دریافتند حجم قابل توجه مازاد نقدینگی بهره ناچیز از اوراق بهادار دریافت می کنند و عملاً به دلیل بالاتر بودن نرخ تورم از نرخ بهره اوراق بهادار در جستجوی مشتری برای قرضه برآمدند. در همین راستا چند بانک نرخ بهره بانکی را تا حد هفت

»

درصد پائین آورده محصولات قرضه های متوسط و کوچک با نرخ بهره پائین را به بازار عرضه کردند.

هرچند ارقام بعدی نشان داد که دلیل فقدان گسترش وساطت مالی و پائین بودن تقاضای برای اعتبارات بانکی تنها بالابودن نرخ های بهره نیست. دلیل اصلی؛ فقدان ثبات و امنیت لازم است و تا زمانی که این مانع اساسی و عمده برچیده نشود سرمایه گذاران نه تنها انگیزه ای برای سرمایه گذاری از طریق دریافت قروض بانکی ندارند، بلکه حاضر نیستند سرمایه های موجود نزد خود را نیز از کشور خارج و در محیط امن و مصون بیرون از کشور سرمایه گذاری کنند.

علی الرغم کاهش نرخ بهره در برابر اوراق بهادار میزان مانده اوراق بهادار نزد د افغانستان بانک همچنان در سطح مورد نظر حفظ شده است؛ به این معنا که کاهش نرخ بهره باعث خروج پول از حسابات بانکی و منجر به تزریق پول به اقتصاد نگردیده و در نتیجه تأثیر بر افزایش حجم نقدینگی و افزایش تورم نگردیده است.

مقدار نقدینگی که قبلاً در حسابهای اوراق بهادار بانک نگهدار می گردید، فعلاً در سهولت سپرده های شبانه و سپرده های نرخ ذخایر الزامی نگهداری می شود.

**ادعای پنجم: ایجاد محدودیت در برابر فعالیت مشروع و قانونی بانک‌های تجارتی.**

توضیح: اساساً وظیفه و هدف بانک مرکزی وضع محدودیت بر فعالیت بانکها نبوده، بلکه توسعه خدمات مالی و بانکی و دسترسی مردم به چنین خدمات، توأم با حفظ ثبات و سلامت نظام مالی و بانکی کشور می باشد. به عبارت دیگر هدف ثبات و سلامت نظام بانکی همگام با هدف توسعه مورد تعقیب قرار می گیرد و هیچگاهی نمی توان ثبات و سلامت نظام مالی و بانکی را قربانی توسعه آن کرد.

بنا براین، وضع هر نوع محدودیت بالای فعالیت یک بانک ناشی از انجام فعالیت ها و عملیات خطرناک/ خطر آفرین از جانب آن بانک بوده و به صورت عموم چنین محدودیت ها در قانون بانکداری کشور صراحت داشته و تنها بالای بانکهای ضعیف که مکرراً دچار تخطی از احکام قوانین و مقررات بانکداری می گردند، اِعمال می گردد.

**ادعای ششم: دادن سهولت بیشتر به یک بانک مورد نظر و برخورد دوگانه با دیگر بانک‌های تجارتی در مارکیت به خصوص ایجاد روابط با بانکها بیرونی.**

ادعای فوق کاملاً بی اساس و مردود است. تمام تسهیلاتی که یک بانک می تواند از آن برخوردار باشد در قوانین و مقررات بانکداری پیش بینی شده است و به هیچ وجه خارج از چارچوب قانونی و مقرراتی صورت گرفته نمی تواند. بانک مرکزی با تمام بانکها از دید قانون و مقررات بانکداری برخورد نموده و می نماید و احکام قوانین و مقررات بانکداری بالای تمام بانکها زمینه تطبیق یکسان دارد. لذا، ادعای فوق ناشی از عدم آگاهی درست برخی از بانکها و مسئولین آنها از احکام قوانین و مقررات بانکداری و طفره رفتن از مسئولیت های قانونی و مقرراتی شان و در نتیجه تاکید بر تداوم قانون شکنی ها و سوء استفاده از سپرده های مردم می باشد که بانک مرکزی به هیچ وجه چنین اجازه را به بانکهای متخلف و قانون شکن نداده و نخواهد داد.

**ادعای هفتم: همکاری با یک بانک مورد نظر در قسمت حصول قروض صعب‌الحصول آن و عدم همکاری به سایر بانک های تجارتی و ممنوع‌الخروج نمودن قرضدارهای آن بانک.**

»

این ادعا نیز بی بنیاد و مغرضانه است. اساساً، حصول قروض صعب الحصول از وظایف خود بانکها بوده و مکلف اند تا در قسمت حصول آن تلاش نمایند. البته، بانک مرکزی در چارچوب قوانین و مقررات بانکداری آماده همکاری با تمام بانکهای مجوز کشور بوده و از هیچ نوع سعی و تلاش در زمینه دریغ نخواهد کرد. آنعده بانکهای که خواستار همکاری شده اند، همکاری لازم با آنها صورت گرفته است و هر بانک دیگری که در این قسمت تقاضای همکاری نماید، بدون شک همکاری لازم از جانب بانک مرکزی صورت خواهد گرفت.

**ادعای هشتم: سوء استفاده از صلاحیت های وظیفوی در مورد منجمنت بانک و برطرف نمودن آمرین بخش‌های مختلف بانک‌ها.**

مطابق احکام قوانین و مقررات بانکداری و متحدالمال های صادره د افغانستان بانک، تمام سمت های کلیدی بانکها باید بعد از منظوری د افغانستان بانک، استخدام و به کار گماشته شوند.

د افغانستان بانک تمام کاندیدان معرفی شده از جانب بانکها را بر اساس شرایط و معیار های مقرراتی، به خصوص مقررهٔ اداره خوب ( Corporate Governance Regulation) و مقرره اشخاص مناسب و شایسته ( Fit and Proper Regulation) بررسی و در صورت واجد شرایط بودن برای مصاحبه گزینش می شود و بعد از سپری نمودن موفقانه مصاحبه با پنل موظف، منظور و یا رد می گردد.

آنعده متصدیان سمت های کلیدی بانکها که از جانب د افغانستان بانک منظور می گردند، تابع ارزیابی اجراات و عملکرد بعدی آنها بوده و به صورت دوامدار پس از دوره های معین کاری مورد ارزیابی قرار می گیرند. در صورتی که اجراات آنها قناعت بخش ارزیابی نگردد، طبیعی است که از وظایف شان برکنار گردیده و اشخاص واجد شرایط دیگر باید به جای آنها معرفی شوند. این یک پروسه کاملاً شفاف و واضح بوده و هیچ نوع تصمیم فردی در زمینه اتخاذ شده نمی تواند. خوشبختانه د افغانستان بانک در زمینه با جدیت و قاطعیت تمام عمل نموده و هر نوع برخورد سلیقه ای و غیر مسلکی در این زمینه از جانب این اداره مردود می باشد.

**ادعای نهم: فرار بیشتر از شش نماینده‌گی بانک‌های خارجی از مارکیت به اساس برخوردهای غیر قانونی و تغییر ندادن سرمایهٔ ایشان.**

این ادعا از اساس نادرست است. اولاً در افغانستان هیچ وقت شش نمایندگی بانکهای خارجی فعالیت نداشته و تنها سه فرع بانکهای خارجی مجوز وجود دارد. ثانیاً هیچ یکی از این سه نمایندگی بانکهای خارجی تا کنون فعالیت شان را در مارکیت متوقف نکرده است. البته یکی از این سه نمایندگی بنا بر درخواست خودش درخواست ادغام با یکی از بانکهای تجارتی دیگر را نموده است.

**ادعای دهم: رئیس کُل د افغانستان بانک درجه بندی دوران تصدی بانک تجارتی خویش را خود انجام داده است که این امر خلاف استندردهای بررسی میباشد.**

تعیین درجهٔ یک بانک تنها بر اساس گزارش و یافته های تیم موظف نظارتی و کمیته مربوطه و در روشنایی معیار های پالیسی و طرزالعمل معینه امکان پذیر بوده و هیچ معیار و قضاوت شخصی و فردی در زمینه نقش ندارد.▣

# د د افغانستان بانک او سوداګرۍ او صنعت وزارت ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو



د د افغانستان بانک او سوداګرۍ او صنعت وزارت ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو.

کابل، د ۱۳۹۷ کال، د غبرګولي ۶ مه - د د افغانستان بانک او د سوداګرۍ او صنعت وزارت ترمنځ د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ریاست له ۲۹۴۳ شمېرې د حکم سره سم د پولي خدمتونو او صرافي جوازونو د ورکړې په اړه د یوې نماینده ګۍ د جوړولو د همکارۍ دوه اړخیزه هوکړه لیک لاسلیک کړ.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د دې هوکړه لیک د لاسلیک پرمهال وویل چې د افغانستان بانک او سوداګرۍ او صنعت وزارت د دوه اړخیزې همکارۍ د لا غښتلتیا، د چارو د ښه پرمختګ، د مالي سیستم د پیاوړتیا او صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته د اسانتیاوو د برابرولو په موخه دغه هوکړه لیک لاسلیک کړ.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې د افغانستان بانک تل هڅه کوي چې د مالي سیستم د پیاوړتیا او غښتلتیا لپاره لارې چارې برابرې کړي، څو پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان په ښه توګه خپلې چارې تنظیم کړي.

نوموړي همدا ډول وویل چې د افغانستان بانک د مالي سیستم د پراختیا لپاره له بېلابېلو اداراتو سره همکارۍ ته چمتو دی او د سوداګرۍ او صنعت وزارت سره یې د دې هوکړه لیک لاسلیک هم د دواړو لورو لپاره یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

د دې هوکړه لیک د لاسلیک موخه د دواړو لورو له خوا صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو ته د جوازونو د ورکړې لپاره تر یوه چتر لاندې د یوې ګډې نمایندګۍ جوړول بلل شوي دي، څو په جواز ورکړې کې د شفافیت او روڼوالي تضمین شوی وي.

دغه راز د سوداګرۍ او صنعت وزارت مرستیالې آغلې کامله صدیقي هم د دې هوکړه لیک له لاسلیک څخه خوښي څرګنده کړه او زیاته کړه چې په دې سره به ټولو صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره آسانتیاوې برابرې او دا به د سوداګرۍ د پرمختګ لامل وګرځي.

آغلې صدیقي زیاته کړه چې په هېواد کې د پانګه اچونې او سوداګرۍ د ودې او پراختیا په موخه هڅه کوي چې له بېلابېلو لارو چارو څخه ګټه پورته کړي چې په افغانستان کې د سوداګرۍ د پیاوړتیا لپاره لارې چارې برابرې شي.

د دې هوکړه لیک پربنسټ، د عدلیه، معادن او پټرولیم وزارتونه، د افغانستان بانک ریاست، د مخابراتو وزارت د مخابراتي خدمتونو د سمون اداره اړ دي چې د سوداګرۍ او صنعت وزارت تر مشرۍ لاندې د جوازونو په ورکړه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره یوه نماینده ګي جوړه کړي.

د یادونې وړ ده چې د دې هوکړه لیک د لاسلیک په پروګرام کې د افغانستان بانک د لومړي مرستیال په ګډون، د افغانستان د سوداګرۍ او صنعت وزارت مرستیالې او د افغانستان بانک او سوداګرۍ وزارت یو شمېر چارواکو ګډون کړی وو.▣

# د مالي سکتور بدلونونه

د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړيو شپږو مياشتو په اوږدو کې د هېواد په اقتصاد کې د مالياتي سکتور کړنې د قناعت وړ وې. حال دا چې د تېر کال د ورته دورې په پرتله د ټولیزه عوايدو د راټوليدو د کړنو کچه ټيټه شوې ده او د افغانستان عامه لګښتونه د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړۍ نيمايي په پای کې نامتوازنه پاتې شوي دي چې عمده لاملونه يې د خراب امنيتي وضعيت په پايله کې د شخصي پانګه اچونو کموالی، د بودجې په اجراء کې ځنډ او د پانګې تېښته ګڼل کيږي. همدا ډول د تدارکاتو اوږدې پروسې، د دولتي او سوداګريزو ادارو لخوا په راپور ورکونه کې ځنډ د هېواد د اقتصاد مالي سکتور اغيزمن کړی دی.

## د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړۍ نيمايي په اوږدو کې د دولت ځانګړې شوې بودجې ۳۲ سلنه مصرف کړې چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. سربېره پردې د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د عملياتي بودجې د اجراء نرخ ۳۹ سلنې ته رسيږې چې د تير کال د ورته مودې په پرتله ۳ سلنه زياتوالی ښيي. په ورته وخت کې د پراختيايي بودجې د اجراء نرخ ۱۹ سلنه وو چې د تير کال د ورته مودې د ۱۷ سلنې په پرتله لږخه زياتوالی په ګوته کوي. د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالی ډېر لاملونه لري چې مهم يې د بودجې د تصويب ځنډول، په ولايتونو کې خراب امنيتي شرايط او د بسپنه ورکوونکو هيوادونو لخوا مرستو کموالی ګڼل کيږي.

## ۲.۵ د بودجې کسر

د بسپنه ورکوونکو له مرستو پرته اصلي بودجې د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نيمايي کې ۶۴.۲۸ ميلیارده افغانی کسر درلوده، حال دا چې د بسپنه ورکوونکو هيوادونو له مرستو سره ۲.۰۱ ميليارده افغانی کسر په ګوته کوي.

## ۳.۵ د عوايدو راټولول

د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړۍ نيمايي په پای کې ټوليزه راټول شوي کورني عوايد ۷۴.۲۸ ميلیارده افغانی ته رسيږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نيمايي د پای د ۸۰.۱۷ ميليارده افغانی په پرتله ۷ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

۱ ګراف: د ټوليزه عوايدو ترکيب د ۱۳۹۶ مالي کال لومړۍ نيمايي




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د آمريت محاسبه

۲ ګراف: د ټوليزه عوايدو پرتله کول، د ۱۳۹۶ مالي کال لومړۍ نيمايي او د ۱۳۹۵ مالي کال لومړۍ نيمايي (په ميليون)




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د آمريت محاسبه

### ۱.۳.۵ مالیاتي عواید

ټولیزه مالیاتي عواید د ارزوني لاندې مودې په اوږدو کې کموالی ښکاره کوي. د رسیداتو په پام کې نیولو سره ټولیزه مالیاتي عواید د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۳۳.۶۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نیمایي د ۴۱.۵۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱۹ سلنه یا ۷.۹۵ میلیارده افغانۍ د پام وړ کموالی په ګوته کوي. په ورته وخت کې د ګمرکي محصولات څخه راټول شوي ټولیزه مالیاتي عواید په ۱۳۹۶ مالي کال ۱۳.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۸.۶۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۴ سلنه د پام وړ کموالی په ګوته کوي.



۳ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله

سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه



۴ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب

سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

### ۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورني عوایدو عمده برخه جوړوي، د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې د ۲.۰۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالي په درلودلو سره ۴۰.۶۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې د تیر کال په ورته موده کې یې کچه ۳۸.۵۹ میلیارده افغانۍ ته رسیده. د غیر مالیاتي عوایدو د زیاتیدو اصلي لاملونه د کان کیندنې او له پانګه ایزه ملکیتونو څخه د تر لاسه شوي عوایدو چې د غیر مالیاتي عواید عمده برخه جوړوي، زیاتوالی ګڼل کیږي.

له بلې خوا د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نیمایي په پرتله د ارزوني لاندې موده کې د څمکو او ودانیو، غیر مالیاتي جریمو او مجازاتو، اداري فیسونو، د توکو او خدمتونو د پلورلو په کچه کې کموالی راغلی دی.

همدارنګه ټولنیزې بسپنې چې د ټولیزه کورني عوایدو یوازې ۲ سلنه جوړوي، د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۱۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. د ټولنیزې بسپنې ټولیزه راټول شوي عواید د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نیمایي له ۱.۷۰ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۱.۵۱ میلیارده افغانۍ ته راټیټه شوي دي.

### ۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بیلابیلو بسپنه ورکوونکو، د پیسو له صندوقونو او نړیواله کمیټو څخه د یو لړ پروګرامونو د عملیاتي او پراختیایي لګښتونو د تمویل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. د بسپنه ورکوونکو ټولیزه مرستې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نیمایي په پرتله د ارزوني لاندې موده کې د پام وړ راکمې شوي دي.

ټولیزه پراختیایي او عملیاتي بسپنې د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړۍ نیمایي په پای کې ۶۲.۲۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړۍ نیمایي د ۱۰۶.۷۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴۲ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

»

سر بیره پر دې د افغانستان د بیا رغونې لپاره د پیسو صندوق (ARTF) د پروګرام لاندې تر لاسه شوې بسپنې د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۱۷.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د شمېرې په پرتله ۴۲ سلنه کموالی په ګوته کوي. همدا ډول د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې د امنیت د لیرد لپاره د ګډو ځواکونو د قوماندانی، متحده ایالاتو او USAID لخوا تر لاسه شوې بسپنه په ترتیب سره ۵۷ سلنه او ۸۸ سلنه کموالی ښیي.

د یادولو وړ دی چې ټولیزه کورني عواید د ټولیزه اصلي بودجې ۵۴ سلنه جوړوي او پاتې ۴۶ سلنه یې د بهرنی بسپنو له لارې تمویلیږي.

۵ ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نمیایي کې د ملي بودجې تمویلي سرچینې




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

۶ ګراف: د بسپنو ورکوونکو د مرستې پرتله




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

## ۵.۵ لګښتونه

د ۱۳۹۶ مالي کال د لومړۍ نیمایي په اوږدو کې ټولیزه لګښتونه ۱۳۸.۵۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۳۳.۴۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول جاري لګښتونه د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې ۱۰۷.۵۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۱۰۳.۴۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴ سلنه زیاتوالی لري.

له بلې خوا، پراختیایي لګښتونه د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د لوړیدونکي بهیر په درلودلو سره ۳۱.۰۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې د ۲۹.۹۶ میلیارده افغانۍ ثبت شوې کچې په پرتله ۳.۵ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. ▣

ګراف: د ۱۳۹۶ مالي کال په لومړۍ نیمایي کې د دولت لخوا د ټولیزه لګښتونو ترکیب




سرچینه: د مالیې وزارت/ د افغانستان بانک د کارکوونکو محاسبه

سرچینې: اقتصادی او احصائیوي بولتن ( د ۱۳۹٦ مالي کال د لومړۍ نیمایي)

# د افغانستان او ترکيې تر منځ د هوايي دهليز پرانيستل د سوداګرۍ په برخه کې اړين ګام

له هند، آذربايجان او قزاقستان وروسته بيا د افغانستان او ترکيې ترمنځ د سوداګريزو توکو د لېږد او را لېږد لپاره هوايي دهليز پرانيستل شو او له همدې لارې د غبرګولي په لومړۍ نيټه په لومړي پرواز کې څه باندې څوارلس ټنه توکي له پلازمېنې کابل څخه ترکيې ته واستول شول.

د افغانستان د سوداګرۍ وزارت چارواکي هيله من دي چې دا دهليز به ترکيې ته د دوی د صادراتو کچه دوه برابره لوړه او ورځ تر بلې به دا لړۍ پراخه کړي، چې د دې دهلېزونو له لارې به افغاني محصولات د نړۍ بېلابېلو ښارونو ته ولېږدول شي.

د يادونې وړ ده چې قيمتې ډبرې، طبي بوټي، تازه او وچې مېوې هغه افغاني توکي دي چې ترکيې ته صادرېږي، خو وچه او تازه مېوه بيا د افغانستان د صادراتو يوه مهمه برخه جوړوي.

د افغان چارواکو په اند، د افغانستان د مرمرو ډبرې د ترکيې ايزمير ښار کې ډېر مېنه وال پيدا کړي او د دې ترځنګ چرم او له پوستکي جوړ شوي افغاني توکي هم په ترکيه کې ښه مينه وال لري. ترکيه له افغانستان سره د کرنې، بريښنا، روغتيا او ودانيزو چارو کې مرسته کوي او له ودانيزو توکو نيولې تر درملو، جامو او فرنيچر پورې له ترکيې څخه افغانستان ته راوړل کيږي.

د سوداګرۍ سکتور چارواکي هوايي دهليز ګټور ګڼي او ښه بېلګه يې د هوايي دهليز له برکته هند ته د تازه ميوو د صادراتو يوولس برابره زياتوالی په ګوته کوي. د سوداګرۍ خونو د معلوماتو له مخې په ۱۳۹۶ کال کې د صادراتو کچه د تېر کال په پرتله ۴۶ سلنه ډېره شوې وه. د صادراتو لپاره پوره آسانتياوو ته اړتيا ده چې لاهم افغان سوداګر د صادراتو په برخه کې پوره آسانتياوې نه لري چې د سړو خونو کموالی، د معياري پکنګ نشتوالی او

»



ځينو اړينو نړيوالو بازارونو ته نه لاسرسی د دې ستونزې بېلګې ګڼل کېږي.

افغان دولت ښودلې چې د صادراتو په برخه کې د خصوصي سکتور ملاتړی دی او له خپله اړخه ورته هر ډول آسانتياوې برابروي. د ښاغلي ولسمشر محمد اشرف غني شعار او ستر آرمان دا دی چې د افغانستان د صادراتو لوړ او هېواد په يوې سوداګريزې څلور لارې بدل شي.

جلالتمأب افغان ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني له اړوندو اقتصادي ادارو څخه هيله کړې چې د افغانستان د صادراتو د زياتيدو، د سوداګرۍ د پرمختګ، د اقتصاد د لوړيدو او د وارداتو د کميدو په پار بايد طرحې او پاليسی جوړې او د پلي کيدو لپاره يې دولتي اړوندو ارګانونو ته وړاندې کړي.

د افغانستان سوداګرۍ په ځانګړي توګه د ترانزيټ په برخه کې سوداګرۍ له ډېرو کلونو راپديخوا د ګاونډيو هېوادونو له پلوه له سترو خنډونو سره مخامخ ده چې تل د دې هېوادونو له لورې په بېلابېلو پلمو اغېزمنېږي، او د هېواد اقتصاد ته هم درانه زيانونه اوړي.

نو له همدې کبله دولت ته پکار ده، څو د نورو لارو د موندلو په لټه کې شي او د ګاونډيو هېوادونو له لوري د خپلې اغېزمنتيا کچه راټيټه کړي. د افغان دولت مشران د حکومت له پيله په دې هڅه کې دي، څو د سوداګريز توکي نړيوالو بازارونو ته وليږدوي، خو اوس په دې وتوانيدل چې له هند او قزاقستان وروسته ترکيې سره هم هوايي دهليز پرانيزي.

افغانستان يو کرنيز هېواد دی چې وچې او ډېرۍ تازه ميوې يې د نړۍ په کچه شهرت لري او د ښه خوند لرونکي دي، خو له وختونو راهيسې دا تازه او وچې ميوې ډېره برخه يې پاکستان ته ليږدول کيږي او نورو هېوادونو ته يې صادريدل لږ دي. اوس چې له ګڼ شمېر هېوادونو سره هوايي دهليزونه پرانيستل شول، د افغانستان بېلابېل کرنيز محصولات به د نړۍ بېلابېلو بازارونو ته وليږدول شي چې په دې سره به بزګران وهڅول شي چې خپل محصولاتو ته پاملرنه ډيره کړي.

ورځ تر بلې دولت خپلې ژمنې بشپړوي او د سوداګرۍ او اقتصادي پرمختګ لپاره هڅه کوي چې خپلو سوداګريزو اړيکو ته پراختيا ورکړي او د افغانستان محصولات له بېلابېلو لارو نورو هېوادونو ته صادر کړي.

د کابل او انقرې ترمنځ په داسې حال کې سوداګري پراختيا مومي چې تردې وړاندې افغانستان د هوا له لارې هندوستان، دوبۍ او قزاقستان ته د وچې او تازه مېوو لېږد پيل کړی.▣

حميدالله فيضي

اخيستني:


1. http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-44211403
2. http://www.spogmairadio.af/index.php/newa/economic/item/2977-2018-05-22-07-14-24
3. http://www.jomhornews.com/ps/news/104215



# ابعاد مختلف فرار سرمایه

فراهم نمودن سرمایه کافی اعم از سرمایه‌های فزیکی و انسانی یکی از عوامل مهم رشد و توسعه اقتصادی کشورها به شمار می رود. در شرایط کنونی یکی از مشکلات عمده کشور های در حال توسعه و توسعه نیافته کمبود سرمایه است، در این کشور ها شرایط ویژه سیاسی و اقتصادی داخلی و بین‌المللی نه تنها موجب جذب سرمایه‌های خارجی نشده، بلکه سرمایه‌های اندک داخلی این کشور ها نیز به خارج انتقال می گردد.

در هیچ صورت، سرمایه پابند وطن و احساسات نبوده و در هر جای که احساس ناامنی کند به مکانی مطمئن تر باکسب بازدهی بیشتر منتقل می گردد. بناءً فرار سرمایه موضوع صرفاً اقتصادی نبوده، بلکه ابعاد سیاسی، اجتماعی و فرهنگی نیز دارد.

اگر به مفهوم فرار سرمایه و انواع آن به بطور فزیکی و انسانی پرداخته شود، به عوامل اقتصادی و اثرات بلندمدت آن بر متغیرهای کلان اقتصادی به ویژه تولید رشد و اشتغال پی خواهیم برد. در آن صورت راهکارهای مناسب به منظور جلوگیری از فرار سرمایه برای ما مشخص خواهد شد.

فرار سرمایه یکی از مشکلات اساسی کشور های رو به رشد بوده که نه تنها اثرات منفی را بر روند رشد و توسعه اقتصادی کشورهای در حال توسعه بر جا گذاشته، بلکه شکاف توسعه ای بین این کشور ها را نیز تشدید می نماید. سیاست‌های اقتصاد کلان جهانی و داخلی کشور ها در دهه اخیر باعث شده است تا جریان انتقال منابع در جهان تغییر نموده و معکوس گردد و سرمایه بیشتر از کشورهای توسعه نیافته به سوی کشورهای توسعه یافته جریان یابد. در بسیاری از کشورهای در حال توسعه فساد مالی، بی ثباتی سیاسی و اقتصادی از انگیزه های مهم فرار سرمایه می باشد.

در مورد تعریف فرار سرمایه باید گفت که این پدیده به روش های مختلف، تعریف گوناگون شده است که برخی از آنها عبارتند از:

انتقال غیر قانونی سرمایه به خارج از کشور، که این مفهوم با عبارت صادرات سرمایه متفاوت است، زیرا صادرات سرمایه با توجه به لحاظ مفاد قانونی کشور انجام می‌شود. پس صادرات یک پدیده عادی اقتصادی است، ولی فرار سرمایه یک پدیده غیر عادی می‌باشد.

در تعریفی دیگر، فرار سرمایه عبارت از فرار سرمایه پولی است که از یک کشور به واسطه ملاحظات بلندمدت اقتصادی، خارج

»

شده و در خارج سرمایه‌گذاری می‌شود.
همچنان برخی از اقتصاد دانان آن را منبع از دست رفته می دانند که می‌توانست در سرمایه‌گذاری داخلی به کار گرفته شود. برخی دیگر خروج سرمایه را عدم ثبات اقتصادی محسوب نموده که با بحران‌های سیاسی و اقتصادی کشور در ارتباط است. مهم ترین عامل فرار سرمایه در کشورهای در حال توسعه ناشی از خطر بالای سرمایه‌گذاری است که شامل خطر ناشی از سلب مالکیت، خطر فقدان ارزش واقعی دارایی‌های ناشی از تورم و کاهش ارزش پول داخلی است.

فرار سرمایه، نرخ رشد ذخیره سرمایه را در کشور کاهش می‌دهد. محققین برای تفکیک و مجزا ساختن مفهوم فرار سرمایه از خروج سرمایه، معیار های را به کار گرفته که عبارت اند از حجم، انگیزه و مسیر جریان سرمایه، که این سه متغیر به هم پیوند نا گسستنی دارند.

فرار سرمایه از نظر حجم:

خروج سرمایه از نظر حجم می‌تواند هم به شکل طبیعی و هم غیرطبیعی صورت گیرد، زیرا جریان خروج سرمایه عادی می‌تواند به معنای تولید و یا سرمایه‌گذاری باشد.

بناءً منشا جریان خروج سرمایه اغلب به معنای خروج ناگهانی و قطعی سرمایه در برخی شرایط نامساعد داخلی یا خارجی صورت می گیرد. بنابراین ماهیت یک خروج غیرعادی سرمایه را می‌توان به فرار سرمایه تعبیر کرد؛ اگر چه زمانی که در جاهای دیگر فرصت‌های بهتر با سود آوری، خروج سرمایه امری عادی تلقی شده و فرار سرمایه محسوب نمی گردد، اگر خروج به دلیل ترس یا ضرر و زیان ناشی از دست رفتن ارزش سرمایه باشد، این قضیه، فرار سرمایه به حساب می‌آید.

انگیزهٔ فرار سرمایه:

تمایل به تامین بازده مناسب برای سرمایه گذار در خارج، جریان خروج سرمایه را به میان می آورد، یا هم بخاطر عدم پرداخت مالیات یا فرار از مقررات دست و پا گیر دولتی خروج سرمایه به میان می آید.

مسیرجریان سرمایه:

اگر جریان سرمایه مسیری دو سویه داشته باشد، هیچ گونه پیش گویی در مورد فرار سرمایه وجود نخواهد داشت، زیرا اگر جریان سرمایه متحرک و منسجم عمل کند، در آنصورت مسیری دوگانه در جریان سرمایه مانند یک جریان طبیعی به میان می آید. جریان و حرکت سرمایه به داخل و خارج کشور یک امر طبیعی محسوب می گردد، به خصوص در شرایطی که اقتصاد در حال رشد باشد. بسیاری از تحلیل گران، فرار سرمایه را دلیل رشد بطی اقتصادی و کسر بیلانس تادیات در کشورهای در حال توسعه می‌پندارند، آنها معتقد اند که فرار سرمایه، پیامدهای نامطلوب زیادی برای کشورهای در حال توسعه دارد، از جمله می توان از کاهش توانایی نظام بانکی برای خلق پول جهت طرح های سرمایه‌گذاری نام برد.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱. HTTP://BOX.GSMLAND.IR / عنوان / تحقیق تعاریف فرار سرمایه

۲. HTTPS://WWW.RADIOFARBA.COM / عنوان / علل فرار سرمایه از ایران/ تاریخ نشر یکشنبه / ۳۰ ثور ۱۳۹۷ تهران / نویسنده احمد علوی

۳. HTTP://WWW.AFGHANPAPAR.COM / عنوان / رکود اقتصادی و فرار سرمایه حاصل نبود امنیت است / تاریخ نشر ۸/ ۲ / ۱۳۹۲

## نقش و مشارکت زنان در نیروی کار

با توجه به اینکه نیمی از جمعیت جهان را زنان تشکیل می دهد، نمیتوان نقش آنها را در رشد عرصه‌های مختلف سیاسی، اجتماعی و اقتصادی نادیده گرفت. در شرایط کنونی یکی از معیارهای سنجش توسعه یافتگی کشورها، اهمیت دادن به زنان و نقش آنها در بهبود عرصه های مختلف فرهنگی، سیاسی، اجتماعی و اقتصادی است. مشارکت زنان در کار دوشادوش مردان و فراهم آوردن تسهیلات لازم در این زمینه، نتایج مؤثر و قابل لمس را به همراه خواهد داشت.

تساوی جنسیتی میان زن و مرد هم از بُعد اخلاقی و هم از منظر اقتصادی قابل اهمیت است. در صورتیکه نصف نفوس جهان بطور کامل به خواست‌های بالقوهٔ خویش دست نیابند، اقتصاد جهان را متأثر می‌سازد. باوجود پیشرفت‌های زیادی طی دهه های اخیر، نامساوات جنسیتی در سطح نیروی کار هنوز هم پدیدار است. سهمگیری زنان در نیروی کار نسبت به مردها بنابر دلایل متعددی چون تفاوت مُزد، عدم مساوات در دسترسی به فرصت‌ها، صحت و اختلاف تحصیلی و مشکلات حقوقی، کمتر می‌باشد. دسترسی مساویانه به وظایف و فرصت‌های اقتصادی نه تنها به زنان بلکه به عموم افراد جامعه مفید تمام می‌شود. بطور مثال، نیروی کار کشورهای که بدلیل سالخوردگی افراد کاهش می‌یابد، در عوض می‌توانند این خلا را ذریعهٔ کارمندان زن پُر کنند.

برای حل معضلهٔ تبعیض جنسیتی، دولت‌ها علی الرغم ورود اصلاحات لازم در قوانین و مقررات در زمینهٔ تبلیغ و رشد تساوی جنسیتی میان زن و مرد، می‌توانند پالیسی‌های مطلوب خانوادگی چون رخصتی والدین و مراقبت مالی و اقتصادی از کودکان را تطبیق کنند. باید گفت که در کشورهای با عواید پائین و کشورهای رو به ظهور، سرمایه گذاری‌های بیشتر در زیربناها، صحت و تعلیم و تربیه، زنان را در قسمت پیوستن به نیروی کار کمک خواهد کرد.

### در خصوص سهمگیری زنان در نیروی کار، اختلافات بزرگ منطقوی وجود دارد




شاخص نابرابری جنسیتی سازمان ملل (GII) نابرابری جنسیتی را در عرصهٔ دسترسی به فرصت‌ها و پیامدها سنجش می کند و این دو پدیده در کُل با عدم توازن درآمد رابطهٔ نزدیک دارد.



براساس شاخص نابرابری جنسیتی سازمان ملل، کاهش ۰.۱ درصدی نامساوات باعث افزایش ۱ درصدی رشد اقتصادی می‌شود.

»




در اروپا از ده موقف بلند مدیریتی دو کُرسی آن توسط زنان اشغال شده است. در صورتیکه این رقم از دو به سه افزایش یابد، برگشت بر دارایی شرکت ها به سه الی هشت درصد افزایش خواهد کرد.




**تفاوت مُزد از لحاظ جنسیت در کشورهای سازمان همکاری اقتصادی و توسعه، حدوداً ١٦ درصد گزارش شده است.**

**کاهش ٢٥ درصدی مشکل سهمگیری زنان در نیروی کار در سال ٢٠٢٥ طور بالقوه ١٠٠ میلیون فرصت کاری را برای زنان ایجاد خواهد کرد.**

اگر سهم زنان در نیروی کار معادل تعداد مردان شود، تولید ناخالص داخلی یک کشور تا چه حدی افزایش خواهد یافت؟




## پالیسی‌های مالی که کمک می کند سهمگیری زنان را در نیروی کار افزایش یابد:



برابری بزرگ میان پالیسی‌های رخصتی مادران و پدران.



توجه به منفعت‌های مساوی اجتماعی که با سهم نیروی کار ربط دارد.



دسترسی به مراقبت‌های مالی و اقتصادی کودکان و بزرگان.




ترجیح وضع مالیات بر عواید فردی نسبت به عواید فامیلی.



سرمایه گذاری روی زیربناها، تعلیم و تربیه و صحت.

تهیهٔ گزارش: ماریا جووانویک / ماهنامهٔ Finance & Development / مارچ ٢٠١٧

برگردان: سید نورحسین میرزاد

# اقتصادي خبرونه

## د افغانستان او ترکيې ترمنځ هوايي دهليز پرانېستل شو

د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو هوايي دهلېزونو د پرانيستلو په لړ کې، د افغانستان او ترکيې ترمنځ هم سوداګريز هوايي دهلېز پرانېستل شو. دغه دهلېز د کابل د حامد کرزی په نړيوال هوايي ډګر کې، د افغانستان د سوداګرۍ اوصنايعو د وزير همايون رسا او په افغانستان کې د ترکيې د سفير اوزان ارطغرل لخوا پرانېستل شو. د سوداګرۍ او صنايعو وزير ښاغلی همايون رسا په دې مناسبت جوړو شويو مراسمو ته وويل چې دغه دهلېز به د افغانستان او ترکيې ترمنځ د سوداګريزو راکړو ورکړو ترځنګ، د دوه اړخيزو همکاريو نور ډېر فرصتونه هم برابر کړي. نوموړی زياته کړه: "موږ د دغه دهلېز د پرانيستو شاهدان يو، او په پام کې ده چې د لومړی ځل لپاره پنځه ټنه افغانی محصولات چې قالينې او وچه مېوه په کې شامله ده، د دغه هوايي دهلېز له لارې ترکيې ته صادر شي، ترکيې ته د افغانستان صادراتی مالونه مختلف دی، هيله ده چې په مجموع کې د افغانستان د صادراتو پر زياتولو تاثير وکړی او له ترکيې سره د نورو سوداګريزو لارو د موندلو په برخه کې هم ابتکار ولرو."ښاغلی رسا وويل، د روان لمريز کال د ثور په مياشت کې د افغانستان او ترکيې د اقتصادی کمېسيونونو ترمنځ يوه هوکړه شوې چې له مخې به يې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادی او سوداګريزی اړيکې نورې هم پراخې شي.

د سوداګرۍ او صنايعو وزير داهم وويل چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به دغه سوداګريزې اړيکې د ګډو همکاريو پر نورو برخو هم مثبت اغېز وکړي.

## در سال جاری محصول تربوز در فراه افرایش یافته است

وزارت زراعت می گوید، در سال جاری محصول تربوز در فراه ۴۰ درصد افرایش یافته است.

اکبر رستمی سخنگوی این وزارت به رسانه ها گفته است که در سال جاری ۱۹ هزار هکتار زمین در فراه تربوز کشت شده و از هر هکتار آن ۳۷ تُن تربوز به دست آمده است. به گفته رستمی، در سال جاری میزان تولید تربوز در این ولایت به ۷۰۰ هزار تُن پیش بینی شده که بیشترین تولیدات را مرکز فراه ولسوالی‌های پشت رود، خاک سفید و بکواه خواهد داشت.

فراه از بزرگترین تولید کننده‌گان تربوز در کشور است که سال قبل از ۱۶ هزار هکتار زمین از هر هکتار آن ۳۴ تُن تربوز بدست آمده بود.

## بلخ ولایت کې د برېښنا دوه پروژې د ولسمشر له خوا پرانېستل شوې

د هېواد ولسمشر محمد اشرف غنی د خلم ولسوالۍ د ۲۲۰/۲۰ برېښنا سب استېشن او د بلخ ولايت د مارمول ولسوالۍ د برېښنا د وېش شبکه پرانېستل. دغه پروژې چې د ۷.۶ میلیون یورو په لګښت د آلمان د بلا عوضو مرستو په وسيله ترسره شوي، ۱۸ زره کورنۍ به له هغې څخه ګټه پورته کړي. ټاکل شوې ښاغلی غني په خپل دغه سفر کې د وچکالۍ له اړخه د بلخ، سرپل، فارياب، جوزجان او سمنګان ولايتونو له زيان شويو کسانو او دغه راز د يادو ولايتونو له ملکي او پوځی مسولينو سره جلا جلا ليدنې وکړي.

»

در سال جاری حاصلات گندم در ارزگان ده درصد افزایش یافته است.

انجنیر زلمی الکو رئیس اداره زراعت و مالداری ارزگان در جریان یک برنامه آگاهی عامه گفت: "با توزیع تخم های اصلاح شدهٔ بذری برای دهاقین و برنامه‌های آگاهی عامه، تغییرات مثبت در حاصلات زراعتی این ولایت به میان آمده‌است." این در حالیست که تعدادی از دهاقین شهر ترینکوت مرکز ارزگان و برخی ولسوالی‌های این ولایت می گویند، جنگ‌های جاری و خشکسالی‌های پیهم زراعت را خساره‌مند ساخته، حاصلات زراعتی چندین مراتبه کاهش یافته‌اند.

**په نیمروز کې د تېلو د تصفیې یوه کارخونه جوړه شوې**

د نیمروز والي په دغه ولایت کې د تېلو د تصفیې د کارخونې پرانېستل یو مهم اقدام وباله.

انجنیر محمد سمیع له رسنیو سره په مرکه کې وویل چې دوو سوداګرو د تېلو دغه تصفیه خونه جوړه کړې او پر هغې یې ۲،۸ میلیونه ډالر پانګونه کړې ده. دی وايي: "یوه کوچنۍ تصفیه خانه جوړه شوې، اومه تېل راځي او دلته تصفیه کېږي، معیارونه ورته ټاکل شوي، لابراتوارونه لري او تصفیه شوي تېل بازار ته وړاندې کوي، کارونه یې معیاري دي." د راپورونو له مخې، د نیمروز په دې نوې جوړې شوې تصفیه خونه کې به هره ورځ تر ۱۱ ټانکرو پورې اومه تېل تصفیه شي. د نیمروز د والي په وینا، د دې ډول کارخانو جوړول د چاپېریال لپاره ډېرې اغېزناکې دي او په عین وخت کې تر ډېره حده د وسایطو د ماشینونو د له‌منځه تلو مخه نیسي.

**وزارت زراعت: ۱۰۰۰ جریب باغ جدید بادام در سمنگان احداث شده‌است**

وزارت زراعت و مالداری افغانستان می گوید، این وزارت از طریق پروژه‌های مختلف یک هزار جریب باغ جدید بادام را در مناطق مختلف سمنگان احداث کرده است. اکبر رستمی سخنگوی این وزارت گفت که احداث این باغ‌ها و افزایش تولیدات بادام به خصوص بادام ستاربایی بالای اقتصاد باغداران در این ولایت تأثیر مثبت به جا می گذارد. آقای رستمی می‌گوید، باغداران ولایت سمنگان حتی یک سیر بادام را به قیمت ۱۲ هزار افغانی به فروش می‌رسانند. بر اساس معلومات وزارت زراعت و مالداری، در مجموع حدود ۲۵ هزار جریب زمین باغ بادام در سمنگان است و پیش بینی می‌شود که در سال جاری بیش از ۳۰۰۰ تن بادام از این باغ ها حاصل شود. گفته می‌شود که محصولات بادام در داخل و خارج کشور به فروش می‌رسد.


سرچينې:

۱. امریکا غږ راډیو
۲. صدای امریکا
۳. سپوتنیک نیوز
۴. آزادي راډیو : ۹ جوزا ۱۳۹۷
۵. رادیو آزادی

# د افغانستان بانک پولي سیاست ته ځغلنده کتنه

د یو هېواد اقتصادي سیاستونه د بېلابېلو سیاستونو ټولګې ته ویل کېږي، چې د پیسو سیاست(Monetary Policy)، مالي سیاست (Fiscal Policy)، د عاید سیاست (Income Policy)، د سوداګرۍ سیاست (Trade Policy)، د اسعارو سیاست (Currency Policy) په خپل منځ کې رانغاړي.

پورته یاد شوي هر یو سیاست یا پالیسي ځانګړې موخې لري، څو ټولنه خپلې اقتصادي موخې یعنې اقتصادي وده (Economic Growth)، اقتصادي پراختیا (Economic Development) او ټولنیز هوساینې او ښه والي Social (Welfareته ورسیږي.

د افغانستان بانک له قانون سره سم، د بیو ثبات تأمینول ( د بیو د عمومي کچې ټیکاو او د مبادلې نرخ د زیاتو نوسانونو مهارول) د یو ټینګ، عصري او سالم مالي سیستم جوړول، د سیالیت تأمینول او د ا قتصادي ودې آسانتیا، د دوامدارې پرمختیا او د سوکالۍ د تأمینولو د ملاتړ په موخه د ورکړې د یو خوندي او اغیزناکه مالي سیستم جوړول او پرمختیا د افغانستان بانک اصلي دندې ګڼل کېږي.

**د پیسو سیاست څه ته وايي؟**

د پیسو سیاست د مرکزي بانک (Central Bank)د تدبیرونو هغه ټولېزې ته وایي چې د پیسو حجم (Volume of Money)یا نقدینګي (Liquidity)کې بدلون (Changes)، د اقتصادي اوضاع ثبات (Stabilization) لپاره رامنځته کېږي. دغه اقتصادي سیاستونه د مرکزي بانک له خوا پلي کېږي چې افغانستان کې زمونږ مرکزي بانک ″د افغانستان بانک (De Afghanistan Bank) ‘‘دی.

د پیسو او مالی سیاستونو ته په عمومي توګه د تقاضا د مدیریت سیاستونه (Demand Management Policies) ویل کېږي، ځکه چې دغه سیاستونه د تقاضا له کنټرول (Control)او مدیریت څخه بحث کوي. په بل عبارت د پیسو سیاست هغه سیاست ته ویل کېږي چې سیاسي ابزارونو (Instruments)کې توپیر د پیسو عرضې (Money Supply) د فشار واردولو لپاره کارول کیږي چې موخه یې اقتصادي کړکیچ (Economic Depression)، د پیسو پړسوپ (Inflation) او اقتصادي نوسانونو (Economic Fluctuations)سره مقابله ده، څو دوامداره اقتصادي پرمختیا (Continuous Economic Development)او با ثباته او اغېزناکه اقتصادي وده (Stable and Efficient Economic Growth)ترلاسه شي.

په د افغانستان بانک کې بیا د پیسو سیاست د پولي سیاست د آمریت له خوا طرح او پلي کېږي چې بېلا بېلې چارې پرمخ بیایې چې په لاندې کرښو کې د دې آمریت په یو شمېر کړنو رڼا اچوو.

د پولي سیاست د آمریت دندې:

د افغانستان بانک د پولي سیاست د لوی آمریت مهمه موخه د کورنیو بیو او د ملي پیسو د ارزښت د ساتلو په موخه د هېواد د پولي سیاست او اسعاري سیاست طرح، تر لاس لاندې نیول او اجراء کول دي. د توکو او خدمتونو د بیو پر وړاندې د ملي پیسو د ارزښت د ثبات له تأمینولو پرته دې موخو ته رسیدل ناشوني دي. د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې بدلونونه په بشپړه څېرتیا سره تر پام لاندې لري او د بیو په »

کچه او نورو اقتصادي شاخصونو باندې د هغه د منفي اغیزو د مخنیوۍ په موخه په بازار کې د متحول مدیریت شوي اسعاري نظام ( Managed Floating Exchange Rate Regime) په اډانه کې لاسوهنه کوي.

د افغانستان بانک د قانون د دویمې مادې پر بنسټ، د مرکزي بانک لومړنۍ موخه د کورنیو بیو د ثبات تأمینول او ساتل دي. له هغه ځایه چې افغانستان د یو نسبتاً پرانیستي اقتصاد او د سوداګرۍ د کسر لرونکی هېواد دی، له همدې امله د کورنیو بیو ټیکاو د مبادلې نرخ له نوسانونو هم اغیزمن دی. په همدې موخه د افغانستان بانک د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ په ارزښت کې بدلونونه تر پام لاندې نیسي او د پولي او اسعاري سیاست د همغږۍ په موخه له متحول مدیریت شوي اسعاري رژیم( Managed Floating Exchange Rate Regime) څخه ګټه پورته کوي.

د پیسو سیاست په هکله داسې هم ویلی شو چې ګوندې د پیسو سیاست له هغه مالي فعالیتونو څخه عبارت وي کوم چې د یو هېواد د مرکزي بانک له خوا اداره او کنټرول کیږي لکه د پیسو نشرول (Issuing Money)، د پیسو (Valuation of Money)، د اسعارو د تبادلې نرخ یا ارزښت ټاکل (Fixing Currency Rate)، د پیسو ګټه (Money Benefit)او داسې نور اړونده دندې، څو مرکزي بانک وکولای شي چې اقتصادي پرمختګ رامځته کړي، د اسعارو د تبادلې نرخ ثابت وساتي، خلکو ته د کار زمینه برابره کړي، د توکو نرخونه ثابت وساتي او دودیزې پیسې د یو هېواد په ثابته توګه وکاروي. د پیسو سیاست ډېرې موخې لري، خو مهمې دوه یې دا دي: لومړۍ اصلي موخه چې مرکزي بانک هره ورځ باید څومره افغانۍ خپل مالي بازار ته وړاندې کړي، څو د خپلو مشتریانو غوښتنې پوره کړي. دوهم اصلي مقصد چې په یو هېواد کې د هر ډول توکو نرخ ثابت وساتي، تر څو د لوړو نرخونو مخه ونیول شي او خلک له اقتصادي او مالي ستونزو سره لاس او ګریوان نشي.

**د پیسو د سیاست کړنلاره Monetary Policy Strategy**

مرکزي بانکونه د اقتصادي موخو د تر لاسه کولو لپاره د قانون پر بنسټ اړ دي چې په خپلواکه توګه د اقتصادي وضعیت سره سمې پریکړې وکړي. مرکزی بانک د خپلو دندو د اجرا لپاره نه یوازې خپلواکي، بلکې یوې موثرې ستراتیژۍ (Efficient Strategy)ته هم اړتیا لري، څو د دې اډانې (Framework) په منځ کې مرکزي بانک انفلاسیون په سمه او مناسبه توګه کنټرول کړای شي. د پیسو ستراتیژي د پیسو بازار (Money Market) او د محصولاتو بازار (Product Market) کې د بریالیتوب لپاره باید لاندې ځانګړتیاوې ولري.

۱.مثمریت یا ګټورتوب (Effectiveness)

هغه وخت مونږ ویلی شو چې د پیسو ستراتیژي اغیزناکه ده کله چې دغه ستراتیژي په بېلا بېلو شرایطو کې یو روښانه پیام بازار ته وړاندې کړي چې د هېواد د پیسو چارواکي یعنی د مرکزي بانک د اقتصاد په هکله د همدې بانک له ځانګړو لومړیتوبونو (Priorities)څخه پیروي کوي.

۲.روڼوالی (Transparency)

د پیسو ستراتیژي باید هرومرو شفافیت او روڼوالی ولري، ځکه چې له دې لارې مرکزي بانک او نورو عوامو په ځانګړې توګه خصوصي ځانګو سره یوه روښانه، ټینګه اړیکه رامنځته کیږي چې د مرکزی بانک دریځونه ښکاره کوي.

۳.دوام (Continuity)

د پیسو ستراتیژي نه یوازې د لنډې مودې (Short-term)لپاره بلکې منځنۍ

(Mid-term)او اوږدې مودې(Long-term) لپاره هم دوام پیدا کوي، خو اقتصادي کړنې پرې ډاډ(Trust) او باوري کړي.

**۱.۲- د پولي سیاست ابزار:**

د افغانستان بانک د پولي زیرمو د کچې د کنټرولولو لپاره له دوو ابزارونو یعنې د اسعار پلور او د مرکزي بانک د بیه لرونکو پاڼو له لیلام څخه د پولي سیاست د لومړنیو ابزارونو په توګه کار اخلي.

a) د اسعارو پلور: د اسعارو پلور د اسعارو د پېر او پلور د مقررې په اړانه کې د لیلام د ازادې او رڼې پروسې له لارې د سوداګریزو بانکونو او مجوزو صرافانو په ګډون په اونۍ کې دوه ځلې د افغانستان بانک له خوا ترسره کیږي.

b) د بیه لرونکو پاڼو لیلام: دویم ابزار چې د افغانستان بانک له خوا د پولي زیرمو د کچې د کنټرولولو په موخه کارول کیږي، د بیه لرونکو پاڼو (Capital Notes) له پلور څخه عبارت دی چې په اونۍ کې یو ځل په سوداګریزو بانکونو پلورل کیږي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک له دې ابزار څخه په لا زیاتې ګټې اخیستنې سره کولای شي د اسعارو په پلور د اتکاء کچه راټیټه کړي. د افغانستان بانک د روان مالي کال د ورځ د میاشتې له پیل څخه د ۲۸ ورځنې او ۱۸۲ ورځنې بیه لرونکو پاڼو تر څنګ یو کلن (۳۶۴ ورځنۍ) د سر رسید وخت سره بیه لرونکو پاڼې پیژندلې دي چې دا کار په دې پاڼو کې د پانګونې زمینه زیاتوي. همدا ډول د افغانستان بانک په پام کې لري څو د بیه لرونکو پاڼو د ثانوي بازار په دودېدو سره، د نقدینه ګۍ په کنټرول کې د دې ابزار ونډه زیاته کړي.




د افغانستان بانک د یاد شویو ابزارو د کارولو ترڅنګ، نور پولي وسایل او ابزار لکه اجباري زیرمې ( Required Reserves) هم په واک کې لري چې د اړتیا په صورت کې د احتیاطي- څارنیزو موخو د تأمینولو سربېره د پولي سیاست د اجراء په موخه هم کارول کیږي.

د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان د دویم اصل پر بنسټ د افغانستان مالي نظام، مالي څارنې او د پالیسیو د پیاوړتیا او پولي سیاستونو باندې د خلکو د لا اعتماد او باور په موخه له بېلا بېلو لارو چارو کار اخلي څو دغه کړنې خلکو ته ورسپېري.

په ټولیزه توګه ویلی شو چې د افغانستان بانک د پولي سیاستونو موخې د بیو ټیکاو، د ګټې د نرخ ټیکاو، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د بدلون د نرخ ټیکاو، د مالي سیستم ټیکاو، د بیکارۍ د کچې کموالی او دوامداره اقتصادي وده رانغاړي.▣

سرچینې:

1. http://dab-internalweb/dab/pa/departments/single/1
2. ستراتیژیک پلان ( ۱۳۹۶- ۱۳۹۹ مالي کال) ص، ۴ و ۵.
3. د پولي سیاست د خبریالانو پریزنتېشن، ص ۷ و ۸.

# نقش دولت در چگونگی بازار

در این اواخر با توسعه سریع تکنالوژی، افزایش جمعیت، دغدغه های رو به فزون محیط زیستی، مخصوصاً فشار فزاینده جهانی شدن از جمله مواردی است که دولت ها را ناگزیر می سازد تا واکنش های مناسب و پاسخ گویی های لازم را روی دست گیرند.

با بررسی ازعملکرد و اتخاذ سیاست ها و خط مشی های دولت و سازمان ها و نهادهای دولتی و اثر آن بر توسعه اقتصادی دولت ها در سطح جهان، می توان چنین اظهار داشت که توسعه اقتصادی و اجتماعی با دوام، بدون وجود دولت مؤثر و کارا، ممکن نیست.

در شرایط کنونی، برای تحقق هدف توسعه اقتصادی و اجتماعی، دولت ها باید نقش خود را منحیث فراهم کننده‌گان تسهیلات به خوبی ایفأ نموده و با مداخله های ضروری هر چند بعد، بازار را به نفع کشور های شان بگرداند، در غیر صورت لجام گسختگی بازار می تواند پیامد های نا گوار را در قبال داشته باشد.

بازار مکانی است که مصرف و تولید کالاها و خدمات را از طریق معاملات داوطلبانه هماهنگ می کند. در مقابل، دولت هماهنگ کننده فعالیت های مردم طبق قوانین و مقررات است. بر اساس بخشی از این قوانین و مقررات، دولت با اعمال قدرت و نفود خود، منابع و مسئولیت های را که بازار از انجام آن ناتوان است به عهده می گیرد.

اگر از نظر اجتماعی بازار بتواند به نتایج مطلوب منابع دست یابد، آنگاه ضرورت به دخالت دولت در فعالیت های اقتصادی نخواهد بود. برعکس اگر بازار موفق به انجام این کار نشود، برای تأمین عدالت اجتماعی دو دلیل عقلی و اقتصادی وجود دارد که دخالت دولت را در این مورد توجیه می کند.

اما این نقطه را نیز نباید فراموش کرد که هیچ گونه تضمینی هم وجود ندارد که دخالت دولت به نفع اجتماع تمام می شود. زیرا نارسایی دولت نیز می تواند به اندازه نارسایی بازار کمی ها و کاستی ها داشته باشد. در این عرصه باید مقدماتی روی دست گرفته شود تا پیامد های دخالت دولت در بازار سبب رفاه اجتماعی گردد.

برای دست یافتن به جایگاهی بهتر اقتصادی، دخالت دولت در بازار، بخش مهمی از راهکار برای توسعه می باشد، در این مورد هر کشوری که بهترین کارکرد خود را محور قرار دهد به بهترین نتیجهٔ مطلوب اقتصادی می رسد. پرثمرترین فعالیت کشورها عبارت از فعالیت های است که نقش دولت در توسعهٔ زیر ساخت ها هویدا باشد.

وظیفهٔ دولت توسعه گرا ذخیره سرمایه و کمک به اشتغال زایی می باشد. هر دولت مقرراتی را تدوین و اجراء می‌کند، اما مقررات آنها متفاوت است. برخی عمدتاً ترویجی و تشویقی اند و انگیزه سازی را هدف قرار می دهند و برخی معکوس این حالت را دارند و محدودسازی یا جلوگیری از ابتکارات بخش خصوصی را هدف قرار می دهند.

دولت ها نقش تولید کننده را هم دارا بوده و مسئولیت مستقیم عرضه بخشی از زیر ساختی را بر عهده داشته و نقش مهمی را در مورد کالاهای زیرساختی ایفا می کند. در اینجا منظور از زیرساخت چیز های است که ویژگی جمعی یا عمومی دارند، مانند جاده، پل و شبکه های ارتباطی و...، زیرا در بخش زیر ساخت ها عموماً بخش خصوصی نمی تواند سرمایه گذاری لازم را داشته باشند و انجام این کار از عهدهٔ آنها خارج می باشد. بنابراین دولت در مواردی که بخش خصوصی نتواند و یا نخواهد سرمایه گذاری کند سرمایه گذاری می کند.▣

منابع:


۱. http://farsi.khamsnei.ir عنوان / حمایت دولت از کالا های داخلی ظاهر و پشت پرده / تاریخ نشر ۶ / ۱/ ۱۳۹۷

۲. https://donye-eqtesab.com / عنوان / تناقض سیاستهای تنظیم بازار باواگذاری تصدی ها به بخش غیر دولتی / تاریخ نشر / ۱ /۲/۱۳۹۷

۳. http://www.mezanonlinonlin.com / عنوان / دولت قصد تسلط و دخالت در قیمت گذاری را ندارد. تاریخ نشر ۱۱ / ۷ / ۱۳۹۴

# د اقتصادي پرمختګ لپاره ډېرو هلو ځلو ته اړتیا ده

د ملي یووالي حکومت له جوړېښت سره سم په هېواد کې د ځینو اقتصادي لویو پروژو چارو دوام پیدا کړ، ځیني بشپړې شوې او د ځینو نویو پروژو پلانونه جوړ او په لاره واچول شوې، چې ښې بېلګې یې د کاسا، تاپي، سلما بند، ، چابهار بندر، د بریښنا نورو بندونو جوړیدا د اقتصادي دهلیزونو پرانیستنه او همدا ډول د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د سوداګرۍ د پرمختګ په موخه بېلابېلو تړونونو لاسلیک کول دي.

دولت په تېرو کلونو کې پردې بریالی شو چې د حکومت عاید کال په کال لس لس سلنه زیات کړي، خو بیا هم دغه زیاتیدونکی عاید د عادي او پراختیایي بودجې له ۶۳ سلنې څخه زیاته برخه نشي تمویل کولای او پاتې برخه یې د نړیوالو د مرستو په وسیله پوره کیږي.

نوي حکومت په دې وروستیو کې پرمخابراتو لس سلنه نوې مالیه هم ولګوله چې د دولت عاید یې نور هم زیات کړ. نړیوالو بسپنه ورکوونکو پخوا هم دا ډول وړاندیزونه کول، چې افغان دولت باید خپل کورنی عاید زیات کړي، دولت هم د نړیوالو له غوښتنو سره سم او د عادي او انکشافي بودجې د بشپړیدو په موخه د عوایدو د زیاتوالي لپاره بېلابېل پروګرامونه په لاره اچولي چې پایلې ښې دي.

دولت څو میاشتې وړاندې په کابل کې پر هټیوالو مالیه زیاته کړه، خو هټیوالو ډېر د دې پریکړې پر خلاف لاریونونه وکړل او خپلې هټۍ یې وتړلې دولت له دې تجربې وروسته د مخابراتي شبکو له لارې د مالیې لګولو یوه داسې تګلاره غوره کړه چې خلک هم ونه پاروي او د دولت عاید هم لوړ کړي.

د ۱۳۹۴ کال د لومړۍ ربعې د شمېرو له مخې د افغانستان صادرات کابو ۶۱ سلنه زیات شوي همدا ډول واردات بیا کم شوي، خو د دې لوی لامل په نړیوال بازار کې د افغانستان د بوټو د نرخ لوړیدل ګڼل کیږي او دا پیداوار په هېواد کې زیات شوي دي چې کال په کال د صادراتو لړۍ هم لوړیږي او هم بېلابېلو هېوادونو ته غځیږي.

اوس د دولتي چارواکو د ژمنو د پوره کیدو لپاره د افغانستان ولسمشرجلالتمآب محمد اشرف غني له اړوندو اقتصادي ادارو څخه غوښتنه کړې چې د افغانستان د صادراتو د زیاتیدو، د سوداګرۍ د پرمختګ، د اقتصاد د لوړیدو او د وارداتو د کمیدو په پار باید طرحې او پالیسۍ جوړې او د پلي کیدو لپاره یې دولتي اړوندو ارګانونو ته وړاندې کړي.

د افغان دولت چارواکو هغه ژمنې چې د ټاکنیزو کمپاینونو پرمهال له خلکو سره کړې دي، ورځ تر بلې د عمل جامې آغوندي او افغان دولت هم هڅه کوي، چې د خلکو په دسترخوان کې بدلون راولي. که څه هم د نا امنۍ کچه لږ څه لوړه وه، خو د دوو کلونو په تېرېدو سره افغانستان د اوبو د بندونو مالک شو، د پاکستان څخه د وارداتو اړتیا کمه شوه، د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره د افغانستان اقتصادي اړیکې پراخې شوې او آن ځینې اړین توکي چې یوازې له پاکستان څخه واردیدل، اوس د منځنۍ

»

آسیا د هېوادونو ترڅنګ له هندوستان څخه هم وارديږي او دا راز صادرات هم دې هېوادونو ته ډېر شول.

افغان ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني د سوداګرۍ له وزارت او نورو اړوندو ادارو او بنسټونو څخه غوښتنه کړې چې د مېوو او سبزيو د صادراتو لپاره طرحې جوړې کړي. دولتي چارواکي څرګندوي چې د قزاقستان او روسيې مارکېټونه د افغانستان د سبزيو او مېوو د خرڅلاو لپاره پرانيستې دي. ازبکستان له افغانستان سره د تعرفو په کمولو کې مرسته کوي او په خپلو پولو کې د مېوو او سبزيو د بسته بندۍ لپاره يې ځيني سيمې د دې هېواد په واک کې ورکوي.

د کندهار د سوداګرۍ خونې د چارواکو د معلوماتو له مخې د ۱۳۹۶ هجري لمريز کال په ترڅ کې کندهار څخه شاوخوا ۲۰ زره ټنه انګور بهر ته صادر شوي دي. د کندهار د انګورو د حاصلاتو کچه کابو ۵۰ زره ټنو ته رسېږي چې ۲۰ زره ټنه يې بهر ته صادر شوي دي او پاتې ۳۰ زرو ټنو انګورو يوه اندازه په کور دننه ولايتونو ته خرڅلاو ته وړاندې شوي او يوه اندازه يې د وچې مېوې په توګه په مميزو بدل شوي دي.

د مېوو د صادراتو په برخه کې يو بل پرمختګ د افغانستان- هند ترمنځ د هوايي دهليزونو پرانيستل دي چې په دې سره د افغانستان د صادراتو کچه لوړه شوې او افغان بزګر هم د افغان دولت له دې کار څخه خوښ برېښي او وايي چې افغاني محصولات اوس د هند په ډېريو ښارونو کې پېر او پلور ته وړاندې کيږي.

ديادونې وړ ده چې دا يوازې هند نه دی چې افغانستان هم د ځمکې له لارې او هم د هوا له لارې له دې هېوادونو سره راکړې او ورکړې لري د د ګاونډيو هېوادونو سر ببېره افغانستان د منځنۍ آسيا او ځينو نورو هېوادونو سره هم د سوداګريزو راکړو او ورکړو تړونونه لاسليک کړي دي چې په دې سره افغان سوداګر د نړۍ له ډېريو هېوادونو سره صادرات او واردات لري.

اوس مهال د تازه مېوې، کمیابه کرنيز محصولاتو او لاسي صنايعو نږدې ټول صادرات د ځمکې له لارې پاکستان ته کيږي چې ډېره ګټه يې د دغه هېواد سوداګر وړي، ځکه هغوی د افغانستان مېوې، غالۍ او نور بوټي په خپل نوم نورو بهرنيو هېوادونو ته صادروي، چې وروسته له دې به دا کار ډېر ستونزمن وي. اوسمهال افغانستان خپلې تازه او وچې ميوې د ځمکې او هوا له لارې د هندوستان سربېره منځنۍ آسيا هېوادونو ته صادروي چې د بزګرانو په ژوند يې هم مثبت اغيز شيندلای دی.

افغان دولت ته پکار ده چې د افغانستان د کرنيزو محصولاتو او همدا راز د افغانستان کاني کمیابه توکو لپاره په نړۍ کې بازار موندنه وکړي او داسې طرحې او پاليسی وړاندې کړي چې د افغانستان محصولات، لکه څنګه چې په نړۍ کې خپل ځای ځای ګی موندلی د نړۍ اړتيا ورته ډېره او دا محصولات په ټوله نړۍ کې په ښه بيه وپلورل شي.▣

اخيستنې


1. http://www.spogmairadio.af/index.php/newa/economic/item/-2018-03-30-
2. www.pajhwok.com//ps/2017/10/04
3. https://www.khabarpana.com/67611/

# بحثی در زمینه بازار سرمایه و بازار پول



در سطح کُل سیستم اقتصاد یک کشور به بخش های مالی و واقعی تقسیم می گردد. بخش مالی که عبارت از زیر مجموعۀ نظام اقتصادی بوده و در آن اعتبارات و سرمایه، در چار چوب قوانین و مقررات مشخص از طرف صاحبان پول و سرمایه به طرف متقاضیان جریان پیدا می کند. بازار های مالی عبارت از بازار های اند که در آنها دارایی های مالی مانند سهام و اوراق بها دار مبادله می شوند و تفاوت میان دارایی های مالی و واقعی در این است که دارایی های واقعی مانند موتر، خانه و ... ماهیت فزیکی دارند.

خرید دارایی های مالی نیز یکی از راه های سرمایه گذاری محسوب می گردد. یکی از خوبی های دارایی های مالی نسبت خرید دارایی های واقعی از نگاه اقتصادی در این است که علاوه بر اینکه دارایی های واقعی کالا های مصرفی بوده و وسیلۀ پس انداز و سرمایه گذاری نبوده، ارزش افزوده ایجاد نمی کند. اما اگر دارایی های واقعی مانند خانه و موتر توسط شخصی خریداری شده و به اجاره داده شود، آنگاه ارزش افزوده ایجاد می کند.

از نگاه اقتصادی بازار مالی به میکانیزمی گفته می شود که امکان خرید و فروش سهام، کالا یا هر گونه محصول قابل تبادله را برای شرکت کنندگان به مصارف پایین فراهم نماید. بازار های مالی در جریان سال های اخیر رشد قابل توجهی داشته و بصورت دوامدار در حال تکامل و افزایش نقدینگی در جهان می باشد. وظیفۀ اصلی بازار ها را گرد آوری خریداران و فروشندگان تشکیل می دهد، زیرا تمامی بازار های مالی در جستجوی جمعآوری سرمایه و برقراری ارتباط میان جوینده گان سرمایه ( قرض گیرنده گان ) و دارندگان سرمایه یا ( قرض دهنده گان ) می باشند.

وظیفۀ اصلی بازار های مالی

یکی از اهداف عمدۀ بازار های مالی را انتقال وجوه بین واحد های اقتصادی تشکیل می دهد. در واحد های اقتصادی عبارت از

واحد های پس انداز و سرمایه گذاری می باشند. در این میان نقش بازار های مالی نزدیک ساختن این دو واحد بوده و در این مورد راهکاری را فراهم می کند که وجوه از واحد های دارای مازاد پس انداز به واحد های مواجه با کمبود منابع انتقال کند. این یک امر حتمی است که تأثیر این همه نقل و انتقال وجوه، امکانات فراهم آوری سرمایه گذاری مؤلد را فراهم می سازد. روی همین علت دیده می شود که در صورت عدم وجود یا ضعف بازار های مالی، امکان تحقق سرمایه گذاری مؤلد در سطح وسیع وجود نخواهند داشت.

چگونگی تعیین قیمت وجوه و سرمایه

باید یاد آور شد که قیمت وجوه سرمایه نیز در بازار های مالی تعیین می گردد، بازار های مالی همیشه به تعیین قیمت سرمایه و وجوه، تمام شرکت ها را در تصمیم گیری های سرمایه گذاری و برنامه ریزی های مالی شان کمک می نمایند. که بر اساس آن قیمت بازار سرمایه توسط شرکت می تواند، بازده متوقعه اش را مورد مقایسه قرار داده و بر اساس آن شرکت ها می توانند سرمایۀ خود را به سرمایه گذاری های که باز ده آنها بالا تر باشند اختصاص دهند.

از طرف دیگر، با استفاده از مصارف سرمایه گذاری که در بازار مالی تعیین می شود، امکان مقایسه و ترجیح سرمایه گذاری کوتاه مدت و بلند مدت. به همین ترتیب، در صورتی که شرایط رقابتی در بازار حاکم باشد، قیمت در بازار مالی به شکل عادلانه انجام می یابد. در چنین شرایط عرضه و تقاضای وجوه و سرمایه، قیمت را تعیین می کند، این قیمت تعیین شده توسط بازار بهترین راهنما برای عرضه کنندگان وجوه و همچنان سپرده گیران و بدین وسیله، تصمیم گیری برای هر دو جناح آسان بوده و منابع سرمایه ای به بهترین نحو مورد استفاده قرار خواهد گرفت.

تسهیل روند دادو ستد ها

سیستم های مالی بر علاوۀ اینکه بهترین کاهش دهندۀ مصارف مبادلاتی است، می تواند موجب تخصصی شدن اقتصادی دربخش نو آوری های تکنالوژی و رشد اقتصادی گردد. زیرا مصارف کمتر مبادلات باعث تخصصی تر و ساده تر شدن کار ها و درنتیجه باعث تقسیم کار بهتر و رشد بالا تر اقتصادی می شود.

مدیریت خطرات

وظیفۀ بازار های مالی برعلاوۀ تخصیص سرمایۀ پولی، مدیریت خطرات اقتصادی را نیز به عهده دارند. در این سیستم، خطراشتغال به فعالیت های اقتصادی و سرمایه گذاری از طریق توزیع اوراق بها دار تفکیک و توزیع می شود. بازار های مالی خطر اشتغال و سرمایه گذاری را تفکیک نموده و افراد را تشویق به تنوع سرمایه گذاری می نماید، زیرا تنوع در سبد دارایی منجر به کاهش خطر می گردد.▣

منابع:


1. http://irbank.com عنوان / بازار پول چیست و چه ابزاری دارد / نویسنده: فرشید محمدی / تاریخ نشر ۱۵ / حوت / ۱۳۹۵
2. http://eghtwsadonline.com / عنوان / فرق بازار سرمایه و بازار پول چیست / تاریخ نشر ۲۳/۲/۱۳۹۳
3. http: //tahlibank.com / عنوان / تفاوت بازار پول و بازار سرمایه در تأمین مالی اقتصاد و جایگاه بر یک در اقتصاد کشور / تاریخ نشر ۱/ ۵/ ۱۳۹۶

# په اقتصادي پرمختیا کې د امنیت رول

امنیت د هغه وچ او بې روحه نظم معنی دی چې ممکن پر ډیرو ټولنو کې حاکمه وي او ګڼ شمیر ټولنې ترې بې برخې وي. په بله معنی امنیت خاموشي ده چې اقتصادي امنیت، سوله ایز امنیت، او په ټولیزه توګه انساني امنیت رانغاړي.

د امنیت رول په اقتصادي پیاوړتیا کې د پاملرنې وړ دی، ځکه کوم هېواد یا سیمه چې امنیت ونه لري او یا نا امنه وي نو په هغې ټولنه کې د پانګې اچونې لپاره ډیر زیات خنډونه شتون لري او پانګوال دېته زړه نه ښه کوي چې پانګه اچونه وکړي.

که چېرې په یوه هېواد کې پانګه اچونې کمزورې شي، ملي عوایدو کې کموالی راځي، سرې سر عاید کمېږي، اوزګارتیا رامنځته کیږي او هېواد له اقتصادي ځوړ سره مخ کیږي.

نا امنی بیا یوازې کورنی اغېزې نه بلکې بهرنی اغېزې هم لري او له بهرنیو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې ترینګلې او ترانزیتي ستونزې رامنځته کیږي، ځکه چې سوداګریز توکي د نا امنی له امله په سالم او ډاډ منه فضا کې نه لیږدول کوي.

د نا امنی په پراختیا سره سواد زده کړه هم له بېلابېلو ستونزو سره مخ کیږي چې دا په خپله نیغ په نیغه په اقتصادي پیاوړتیا منفي اغېز کوي. د نوبل جایزې ګټونکی "ګري بیکر" لیکي چې امریکا کې د اقتصادي نا برابرۍ اصلي لامل د زده کړې کمښت دی.

### امنیت نشتوالی

د کلاسیک اقتصاد یوه معقوله ده چې پیسه تر ټولو ډارن ځېز دی چې ډار او پیسه یو له بل سره معکوسه اړیکه لري، چېرته چې ډار وي هلته پیسه نه وي، معني دا چې شتمنی راجلبول د امنیت له ټینګښت سره نیغ په نیغه اړیکه لري.

اوسمهال نا امنی د نورو سکتورونو سربېره د خصوصي سکتور لپاره هم لویه ستونزه ده چې د همدې ستونزې په بنسټ ګڼ شمیر شتمن کسان زړه نه ښه کوي چې په افغانستان کې پانګه اچونه وکړي.

ډیری سوداګر د دې لپاره چې نا امنی زیاتې شوې، اړ شوي چې خپلې پانګې په افغانستان کې کمې کړي او د افغانستان ګاونډیو هېوادونو ته یې ولیږدوي. افغان دولت ته پکار ده چې د نا امنی مخه ونیسي او پرې نږدي چې سوداګر خپلې پانګې هېواد څخه بهر ولیږدوي، ځکه د پانګو په لیږد سره اقتصاد کمزوری او د پرمختیا مخه نیول کیږي.

د نا امنی په پراختیا سره د بهرنیانو له خوا په افغانستان کې د پروژو پلي کېدل هم له ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، خو افغان دولت د بهرنیو پانګه والو د جلب په موخه د امنیت ټینګښت ته لومړیتوب ورکړی دی.



فواد لودین

د ټولو ناظر اداري داخلي آډېټور

د هغې څېړنې له مخې چې د کابل پوهنتون د څېړنیز مرکز له خوا په ۱۳۹۵ هـ ش کال کې ترسره شوې ده، د ۸۴ سلنه خلکو څخه پوښتنې شوي چې په افغانستان کې د بیکارۍ د کچې زیاتیدل یې د امنیت نشتوالی په ګوته کړی دی.

نو د دې څخه څرګندیږي چې د یوه هېواد د اقتصادي پرمختیا لپاره امنیت اړین دی او باید هڅه وشي چې هغه لاملونه چې د نا امنی لامل ګرځي، ځانګړي او د تلپاتې امنیت ټینګښت لپاره د اړوندو ارګانونو له پلوه اغیزناکه تګلاره رامنځته او پلي شي.▣

**اخېستنې:**


1. www.wikipedia.com .
2. Newspapers & magazines.
3. Books.

# څه ډول کولای شو په سوداګریزو ونډو پانګه اچونه وکړو؟

که چیري مو پریکړه کړې، چې پانګه اچونه وکړئ، خو وېرېږئ، چې د دې کار پیل کومه تېروتنه نه وي، یا هم له داسې خنډونو سره مخ نشئ چې پانګه اچونه مو له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي؟ باید پوه شئ چې په پانګه اچونه کې په دې ټکي پوهېدل چې خپلې پیسې له لاسه ورنه کړو، د ګټې په اندازه اړین دي. په سوداګریزو ونډو پانګه اچونه د شتمن کېدو لپاره تر ټولو مهمه لار ده، خو څه ډول یې پیل کړو؟

په پیل کې د کار کولو د یوه حساب پرانیستلو او په دویم قدم کې د پانګونې په اړه له مالي مسائېلو ستاسو درک او د بودجې په اړه معلوماتو ته اړتیا ده.

### ۱. پانګه اچونکی باید د پانګې اچونې ډول ځانګړی کړي:

له هرڅه مخکې د سوداګریزې ونډې د اخیستنې لپاره پریکړه وکړئ، ځکه دا مهمه ده چې په ونډو کې د پانګه اچونې په تګلاره پوه شئ او غوره مفکورې سره پانګه اچونه وکړئ نو د دې لپاره لاندني معلومات ولولئ او د حالاتو په اړه ځان ډاډ من کړئ.

که د تاسو خوښه ده چې په سوداګریزو ونډو پانګه اچونه وکړئ، نو تاسو د بېلابېلو سوداګریزو ونډو په اړه معلومات واخلئ او وګورئ چې کوم سوداګریز توکی ښه بازار لري او د بازار د اړتیا سره سم تولیدیږي. بیا هم که تاسو د سوداګریزو ونډو په بازار کې پانګه اچونه وکړه، له ښو سوداګریزو سلاکارانو سره سلا وکړئ، څو په ډاډه توګه مخ ته ولاړ شئ.

تاسو له یوه اقتصادي سلاکار سره مشوره وکړئ او د سوداګریزو ونډو په بازار کې د پانګه اچونې په اړه معلومات ترلاسه کړئ، څو په کم ارزښت سره ښه پانګه اچونه ترسره شي او پانګه اچونه د ښه او پیاوړي مدیریت په درلودو سره پیل شي. تاسو باید د پانګې اچونې په برخه کې ځینو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست. په هغه ځای کې پانګه اچونه وکړئ چې له حالاتو سره سم د پرمختګ او شتمن کېدو احساس درکړي.

هغه څه مو چې په رښتیا تر کنترول لاندې دي، د سرمایې کره شمېره، د بیو ټیټ ساتل او ځینې نور موضوعات دي چې رښتنې پانګه اچوونکي خپه کوي. او دا هغه کار دی، چې تل ورته ښه او بریالي پانګه اچوونکي پام کوي او هغه تر کنترول لاندې نیسي.

### ۲. د بنسټیزو مالي زېرمو او د سوداګریزو ونډو ترمنځ توپیر ټاکنه:

ډېری خلک په سوداګریزو ونډو پانګه اچونه کوي او د بنسټیزو مالي زیرمو او سوداګریزو ونډو ترمنځ ټاکنه کوي. د مالي زیرمو مالي معاملو لپاره د سوداګریزو ونډو په پرتله کمې مالي پانګې اخیستنې ته اړتیا ده. دبېلګې په ډول څو تنه ونډه لرونکي پورته کیږي او د یوې کمپنۍ ډېرې ونډې په پیسو رانیسي، که چیرې تاسو هم په دې سوداګرۍ کې پانګه اچونه وکړئ، یوه کوچنۍ ونډه پیدا کوئ او د دې کمپنۍ له ونډه لرونکو څخه شمیرل کیږئ. که چیرې تاسو د یوې ځانګړې کمپنۍ خاوند یاست، تاسو کولای شئ ونډې واخلئ او سوداګریز ډګر ته ګام پورته کړئ. څومره چې شونتیا وي له شخصي ونډو څخه پورتو فولیو جوړه کړئ او تر ټولو مهمې پانګې اچونې وکړئ.

د ونډې او مالي زیرمو توپیر د تاسو د سوداګرۍ زیان کموي او ځینې نور یې ناشونې شیان بیا په شخصي ونډو کې د تاسو د

سوداګرۍ زیانونه ډېروي. پورتنۍ شخصي ونډې غوره ټاکنې رامنځته کوي چې تاسو په ډېر ښه ډول سره پانګه اچونه ترسره کړئ، خو ځینې شخصي پانګه اچونې تاسو ډېر ژر شتمن کوي. که چیرې تاسو د خپل تقاعد د مهال لپاره پانګه اچونه کوئ نو تر ټولو غوره ټاکنه ترسره کړئ، څو وکولای شئ د خپل ژوند مالي برخه له هغې پانګې اچونې څخه چې تاسو ترسره کړې ده تمویل کړئ.

**۳. خپله بودیجه محاسبه کړئ:**

نوی پانګه اچونکی له ځان سره دوه پوښتنې لري، یو داچې د سوداګرۍ د پیل لپاره څومره پیسو ته اړتیا ده؟ که چیرې تاسو په سوداګریزو ونډو کې پانګه اچونه کوئ نو لومړی د خپلو پیسو د شمیرې او اندازې کچه وټاکئ چې څومره پانګې اچونې سره د ونډو لرونکو ډګر ته ور دانګئ. د تاسو پیسې که کمې وي تاسو کولای شئ له اقتصادي سلاکار یا دلال سره سلا وکړئ، خو په یاد ولرئ، چې تاسو په کمې شتمنۍ سره پانګه اچونه کوئ، نو تاسو په کمو پیسو سره ونډه ترلاسه کړئ.

که چیرې ټینګار کیږي چې د خپلو پیسو ډیره برخه پانګې اچونې ته ځانګړې کړئ. که چیرې تقاعد ته نږدې شوي یاست او هیلې مو لوړې وي، هڅه وکړئ چې اتیا سلنه خپله شتمنۍ پانګې اچونې ته ځانګړې کړئ، څو د تقاعد پرمهال خپلې اړتیاوې د دې پانګې اچونې د ګټې له لارې بشپړې کړئ. خو د شخصي یا انفرادي سوداګرۍ لپاره هیله کیږي چې خپل لس یا هم شل سلنه شتمنۍ پانګه اچونې ته ځانګړې کړئ، ځکه شخصي سوداګرۍ ډیره زیانمنونکې ده.

**۴. یو حساب پرانیزئ:**

که چیرې تاسو په خپله دنده او کارځای کې ستایل کیږئ، نو د تقاعد له پلان سره سم په سوداګریزو ونډو کې نیغ په نیغه په بنسټیزو پروژو پانګه اچونه وکړئ او که تاسو پلان نه لرئ نو هیله ده چې له اقتصادي سلاکار سره مشوره وکړئ څو وکولای شئ په داسې سوداګرئ لاس پورې کړئ چې د تاسو د راتلونکې لپاره ښه پایله ولري.

له اقتصادي سلاکار سره په مشورې د تقاعد لپاره یو شخصي حساب جوړ کړئ او کله مو چې حساب پرانیسته یوه سوداګریز سلاکار ته ورشئ چې لږ فیس ترلاسه کړي او له ښو سلاوو سره تاسو ته مثبت لوری درکړي.

سوداګریزو چارو د ترسره کولو لپاره وخت ته هم اړتیا ده، خو که چیرې ډیر وخت سوداګریزو چارو بوخت یاست له یوې اونۍ هم ډیر لږ وخت لرئ چې پلټنه وکړئ، نو لومړی داسې یوه اقتصادي سلاکار پسې وګرځئ چې هغه واقعا په دې برخه کې ښه تجربه ولري او په کم لګښت یې سلاوې ترلاسه کړئ. پلټنه او څیړنه د شخصي پانګه اچونې لپاره کلي ګڼل کیږي، پرته له پلټنې نشئ کولای چې ټول بازار په عملي توګه وڅارئ، خو پلټنه کولای شي تاسو د سوداګرۍ له غوره لارو سره آشنا کړي، څو په راڼه چاپېریال کې پانګه اچونه ترسره کړئ.

د دې معنې دا ده چې څیړنې کولای شي تا د بازار شننې او ارزونې، کلني راپور د اقتصادي ودې سره آشنا او همدا ډول د توکو مناسب نرخ او ستا د خوښې پانګې اچونې ته لارې چارې برابرې کړي.▣

حمیدالله فیضي

اخیستنې:


۱. Rich Smith (TM Ditty) May 27, 2017 at 7:20AM سي ان ان انګلیسي برخه ،

۲. ARIELLE O'SHEA, February How to Invest in Stocks, 3, 2017

۳. http://www.acci.org.af/pa/archive/284-n.html

# فروش مواد خام معدنی و پی آمد آن



یکی از موضوعات مهمی که باید روی آن بحث نمود، موضوع فروش و صادرات مواد معدنی بدون تبدیل نمودن آن به تولید است. این امر را خام فروشی مواد معدنی می نامند، اما مسئله خام‌فروشی در مورد مواد معدنی متفاوت است. یعنی نمی‌شود با یک نظریه همه را رد نمود و یا برای همه مواد معدنی یک حکم ثابت و یکسان صادر کرد. چون هر مادهٔ معدنی شرایط خاص خود را دارد و باید با توجه به شرایط خاص خودش در موردش نظریهٔ خود را ارائه نمائیم. ما نمی توانیم جلو صادرات هر مادهٔ معدنی را گرفته و صفت خام را به آن بدهیم.

صادرات و فروش مواد معدنی در یک مرحله خاص می توانـد هم مصداق خام‌فروشی باشد و هم نباشد. مانند فولاد، مس، سنگ و آهن همه را می‌توانیم مواد خام‌فروشی تصور نمائیم. زیرا به تنهایی خود نمی‌تواند مورد استفاده مصرف کننده گان قرار گیرند و در هر مرحله می‌توان با انجام یک سلسله تغییرات آن را به کالایی تبدیل کرد.

برای واضح ساختن اینکه چه چیزی خام‌فروشی است و چه چیزی خام فروشی نیست، در این مورد ما باید شناخت دقیق و برنامه‌ریزی منظمی داشته و مراحل مختلف آن را تا رسیدن به هدف نهایی پیش‌بینی نمائیم .

متأسفانه گاهی تصمیم های در مورد مواد معدنی اتخاذ می

»

گردد که به بخش معدن مؤثر نبوده و زمینه اصلی عدم توسعه یافتگی می گردد. در بخش معدن مسئله خام فروشی در این اواخر مطرح شده است که به دنبال آن مشکلاتی برای صادرات مواد معدنی به وجود آمده است. چون یک عده معتقد اند سنگی که توسط بخش خصوصی صادر می‌شود، به مواد پخته تبدیل نشده، علاوه بر اینکه به قیمت ارزان صادر میگردد، زمینهٔ اشتغال را نیز مساعد نمی سازد. در این مورد باید دقت صورت گیرد که اصطلاح خام فروشی برای کدام نوع مواد معدنی اطلاق می گردد و بازار آن در کجا است. آیا امکان تولید کالا از مواد معدنی در کشور وجود دارد یا خیر؟

در حال حاضر در حدود دوسوم مصرف سنگ تزئینی دنیا سنگ طبیعی بوده و حدود یک سوم آن سنگ مصنوعی می باشد. سالانه حدود ۱.۷ درصد از مصرف سنگ طبیعی در جهان کم می شود که دلیل آن نیز واضح است. سنگ‌های مصنوعی مقاوم تر، سبک تر، زیباتر و ارزان‌تر است. از طرف دیگر ما هم ذخایر فراوانی از سنگ‌های تزئینی داریم، اما با توجه به کاهش مداوم مشتریان سنگ‌های تزئینی، مشخص نیست که در ۱۵ یا ۲۰ سال آینده بازار قابل توجهی برای این سنگ ها وجود خواهند داشت یاخیر؟ ما باید از هم اکنون به هر میزان که می‌توانیم سنگ تزئینی را به هر شکلی تولید و صادر نمائیم، زیرا ممکن است به زودی مشتری جهانی خود را از دست بدهد.

این مواد شامل آهن، سرب، روی، کرومیت و ... می باشد. در سطح کُل اگر فروش مواد خام بطور قطعی ممنوع قرار داده شود، بعد از مدتی تمام معدن کاران و کارخانه داران درآستانهٔ تعطیلی قرار خواهند گرفت.

اگر همزمان با صادرات مواد خام معدنی، زمینهٔ تولیدات مواد معدنی نیز در کشور آغاز گردد و کارخانه های ذوب آهن، مس و فولاد در کشور راه اندازی شوند. آنگاه اکتشافات به میان آمده و صنایع دچار کمبود مواد اولیه نخواهند شد.

در این صورت بخش معدن می تواند به دنبال ارزش افزودهٔ بیشتر شود، بعداً اگر زمینهٔ مصرف آنها در کشور وجود داشته باشد خوب و در غیر آن بعد از افزودی ارزش افزوده روی آنها، مواد تولید شده به خارج صادر گردد.

گرچه موضوع خام فروشی مواد معدنی از جمله مواردی بوده که اکثر باشندگان کشور از آن رنج می برند، آنها می گویند جهت ایجاد اشتغال و جلوگیری از صادرات مواد معدنی باید زنجیرهٔ افزایش تولیدات مواد معدنی در داخل کشور ایجاد گردد و یا هم باید موضوع جلوگیری از صادرات مواد معدنی و تکمیل زنجیرهٔ محصولات آن به صورت موازی در کشور حرکت نمایند، تا به مرور زمان از صادرات مواد خام معدنی کاسته شده و در مقابل صادرات محصولات مواد معدنی افزایش یابد.▣

منابع:


1. www.azmc.com عنوان / جلو خام فروشی مواد معدنی گرفته شود / شرکت زرین معدن آسیا

2. www.irna.ir / عنوان خام فروشی یا فرآوری مواد معدنی / تاریخ نشر ۶/ ۳/۱۳۹۶

3. https // eghtesadonline.com / خام فروشی میلیون ها تن مواد معدنی / تاریخ نشر ۶/۱۱/۱۳۹۵


پول افغانی نشانۀ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!